
فلسفه په ساده ژبه
لیکوالان:
ژباړه:
امین رنځور
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلسفه په ساده ژبه

په بلجیم کی د قضایي فلسفي حقوقي ځانګه (Y-ease)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

**د کتاب نوم ---------------- فلسفه په ساده ژبه**

**لیکوالان:----------- -------جیني تېچمن او کیټرین ایوینز**

**ژباړه:---------------------- امین رنځور احمدزی**

**کمپوز او ډیزاین: ---------- جمال ناصر ختټک**

**د چاپ شمېر:-------------- دوه زره ټوکه**

**خپرندوی: ----------------- په بلجیم کی د قضایي فلسفی حقوقي ځانگه**

---

دترلاسه کولو پتې:

کابل: د پامیر سینما شاته دوهم پوړ کتاب‌ښار ته مخامخ د هله مجلی دفتر

جلال اباد: اسحق زی مارکېټ ځمکتلی یار کتاب پلورنځی

لوگر:۱- پل‌علم زینت راډیو ۲- ښاروال مارکیټ حکیمي کتاپلورنځی

پکتیا: گردېزښار غزني لین علمي کتاپلورنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


- سریزه ........................................................................ ۴
- فلسفه څه شی ده ؟ ....................................................... ۵
  - مابعدالطبیعه ..............................................................
  - اخلاقي فلسفه ............................................................
  - سیاسي فلسفه .............................................................
  - د علم فلسفه ..............................................................
  - منطق .......................................................................
  - د فلسفې نوری څانګی .................................................
- ګټه او اخلاقي اصول ......................................................
- مارکس او مارکسیزم .......................................................
- اقتدار او بی دولتي ........................................................
- ژوند او مرګ ...............................................................
- د شر وجود ................................................................
- د خدای(ج) وجود ............................................................
  - دلیل د الهام په بنیاد ......................................................
  - دلیل د معجزاتو په بنیاد ..................................................
  - دلیل د علت اولی ...........................................................
  - دلیل د وجود په بنیاد .......................................................
  - دلیل د اتقان صنع ..........................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



- برابري ..........
  - د فرصت برابري ..........
  - قانون او ارزښتونه ..........
  - حداقل دولت ..........
- آزادي ..........
  - سیاسي آزادي ..........
  - استقلال ..........
  - د مشروطه حکومت په چوکاټ کی سیاسي ازادي ..........
  - د ټولنو د آزادۍ تضمین ..........
  - فردي آزادي او طبیعي حقوق ..........
- په ژوند د فلسفې تاثیر ..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

دا کتاب هم د عادي لوستونکیو لپاره لیکل شوی او هم د پوهنتونونو تحصیلاتي مؤسسو او مسلکي محصلینو لپاره لیکل شوی دی، دا کتاب د کېمبریج د پوهنتون فارغ کیتېرین ایوینز لیکلی دی هغه اړتیا احساس کړه چې لوستونکي د فلسفې له لا زیاتو موضوعاتو سره آشنا شي، موږ وغوښتل چې دلته هغه پیچلي اصطلاحات په اسانه او ساده ژبه بیان او وړاندی کړو کوم چې عام فهمه نه دي او د فلسفې په نورو کتابونو کې په نسبتاً تخصصي ژبه وړاندی شوي دي. په نورو پخوانیو آثارو کې به ډېر کم داسې وي چې دی اصل ته دی پام پکې شوی وي. موږ دلته د فلسفې له براخ علم نه په اختصاري ډول یو څو متنونه راخیستی دي چې په فلسفي علم، سیاسي نظریاتو، فیمنیزم، منطق او د ژوند په مانا مشتمله ده. د موضوعاتو د ځینې برخو په لیکلو کې د کیمبریج پوهنتون له درسي جزواتو استفاده شوی ده لیکن دا موارد په یو داسې شکل استفاده شوي دي چې هغه کسانو ته اخذ تر ډیر اسانه دی کوم چې له فلسفې سره تر دا دمه هیڅ اشنا نه دي. د فلسفې تاریخ مو دلته تر بحث لاندی نه دی نیولی لیکن ځای ځای په مستقیم او غیرمستقیم ډول فلسفي مساي او پیشنهادي حل لاری وړاندی شوي دي. په دوهم چاپ کې ځینې متنونه تصحیح شوي دي یو له دغه فصلونو څخه (ژوند او مرګ) دی چې د سیاسي اخلاقو په جمله کې راځي او دوهم فصل د (مارکس او مارکسیزم) په نامه د مارکس د سیاسي نظریې تشریحي بڼه ده.

دا کتاب د علمي پراختیا او د فلسفي معلوماتو د زیاتوالي په موخه نه صرف د فلسفې د زده کوونکو لپاره بلکې د سیاست، ټولنیزی نظریې او د الاهیاتو د علم د علاقه مندو افرادو لپاره هم ډیر ګټور دی.

جیني تیچمن او کیتېرین ایوینز

PHILISOPHY: A Beginners Guide

د کتاب اصل نوم فلسفه د تازه زده کوونکو لپاره دی چې په فلسفه په ساده ژبه اړول شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې اړتیا ده چې فلسفه ووایو ؟

که څه هم دا زموږ په ټولنه پوری نه محدودیږي او عامه مسئله ده. د مطالعې یو له غټو او اړینو مسایلو څخه داده چې فلسفه موږ د سات تیرئ لپاره لولو، نن ورځ زموږ د ځوانانو تر منځ د فلسفي مطالعه ډېره شوی ده مګر په ډیر کم شمېر ځوانان به وي چې فلسفه د مناسب هدف او انګیزی په خاطر ګوري، دلته غواړم د فلسفی د مطالعی دوه ډوله انګیزې نقد کړم. اول: ځینی افراد چی شاید ډیری برخه به یی ځوانان وي د نورو ورځنیو مشغولتیاوو او سات تیریو تر څنګ یو ډول کلتوري تفریح هم وکړي چی یوه برخه یی مطالعه تشکیلوي چی له دی نه د خوند لپاره استفاده کوي خو فلسفه ځکه دوئ د خپلی مطالعی لپاره زیاته کاروي چی له کلتوري او روښنفکرانه پرستیژ نه برخمنه ده.

دوهم: یوه بله انګیزه چی د فلسفی په متونو پوری تړلی ده داده چی افراد غواړي خپله د پوهی او سواد سطحه پورته یوسي. له دی نه ددوئ هدف دا وي چی له فلسفي بحثونو سره لا ډیر اشنا شي او په هر څه وپوهیږي. دلته د لوستونکي هدف له مطالعی نه خوند اخیستل او یا سات تیرول نه وي بلکې د ورکړل شوو معلوماتو ذخیره کول دي چی په دغه مطلوب کتاب کی ځای په ځای شوي وي.

د خوند لپاره د فلسفې مطالعه ددی سبب کیږي چی سړی د فلسفې د عمیقې مطالعی په ځای یو څو کتابه ووایي ځینی جملی او اصطلاحات یاد کړي او ستړی او بیا د یوی بلی موضوع په لټون او تعقیب پسی لاړ شي. دلته له ټولو مهمه موضوع چی د سړي ذهن کنجکاو کوي د یوی موضوع په اړه د شخص کم معلومات او لنډفهمي ده، بلخوا د کیسی په شکل د فلسفی د تاریخ لوستل بغیر له دی چی فلسفه د سړي په ذهن کی د یو داستان په شکل پاتی کړي بله نتیجه نه لري خو له هغه کسانو پرته چی هغوئ فلسفه د یو دلچسپ مضمون په توګه وایي او تعقیبوي یې. ددی لوی مثال د پوهنتونونو دی چی هلته فلسفه د ځمکپېژندنی او جغرافیا غوندی د یو اضافي مضمون په توګه تدریسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فلسفه په ساده ژبه

اساساً فلسفه د انسان تر گردو زیاته او مهمه روحي اړتیا ده، ځکه چې انسان ژور پوهیدلو ته اړتیا لري او دغه راز پوهیدنه د انسان لپاره یوه همیشنۍ اړتیا ده. لکه چې موږ گورو ماشومان تل په دې هڅه کې دي چې وپوهیږي دا کار څنگه، له کومه او چا وکړ. په همدې دلیل ارسطو وایي: فلسفه په طبیعي توگه نړۍ رانغاړي بناً هر انسان په یو نه یو توگه فیلسوف او یا د فلسفې تر تاثیر لاندې دی، ځکه چې په ناغوښتلې توگه ددوئ ژوند په هغو مسایلو پورې تړلی دی چې فلسفه بحث ترې کوي او فیلسوفان دغه مسایل چې د انساني ژوند بنیاد یې بللی شو په ژوره توگه څیړي او تر بحث لاندې یې نیسي او د حل لارې ورته لټوي.

له بل پلوه موږ انسانان په ژوند کې د عملي کردار لپاره مجبور یو چې همیشه تصمیم ونیسو او په بنیادي توگه له یو انتخابه پرته ژوند کول ناممکن دي، نو په همدې اساس موږ اړ یو چې پوه شو کوم تصمیم چې موږ نیسو ولې او څنگه یې باید ونیسو او د فلسفې وظیفه همدغه ده چې موږ ته ددغه انتخاب نوعیت نتیجه او حل لارې راپه گوته کړي. نو په دې اساس فلسفه د هر انسان لارښود دی، او د لا ښو لارو چارو او کاملو لارو چارو او نویو لارو چارو د ټاکلو لپاره یو منظم چوکاټ او سیستم ته مو ورپام کوي او په انسان کې د ژوند او نړۍ د حقیقي مانا او جوهر د پیدا کولو لپاره یوه قوي قوه او هوډ پیدا کوي د همدې لپاره موږ فیلسوف هغه څوک بللی شو چې ددغو اړتیاوو څیړونکی وي او دغه چوکاټ چې د ژوند د اصولو لپاره د فلسفې علم ټاکلی دی شنلې او څېړلی شي.

بله ضروري نکته چې د فلسفې اهمیت مخکې له مخکې راته روښانولی شي هغه داده چې ټول علوم فلسفې ته اړ دي، تر ډیره پورې دعلماوو تر منځ نظر دا موجود دی چې فلسفه د علومو په اساس ټاکلو کې مخکښ رول لري، که هغه علوم طبیعي او ریاضي علوم وي چې په تجربوي اسلوب مخکې ځي یا په برهان او قیاس، بلکې ټول هغه څه چې موږ یې د علم په نوم یادولی شو فلسفه یې نقشه ورجوړوي.

تر کومه حده چې ددې کتاب د ژباړلو اړتیا ده باید ووایم چې لکه څرنگه چې ښاغلي تېچمن په خپله د پیل په خبرو کې ویيلي دي دا کتاب د فلسفې له مسلکي اشخاصو پرته د هغو لپاره هم مهم دی چې غواړي د فلسفې په اړه په څه وپوهیږي دلته کوشش شوی دی چې د فلسفې د مطالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فلسفه په ساده ژبه**

پیچلي موضوعات او نسبتاً سخت اصطلاحات په ارامه او روانه ژبه وړاندی شي چی هر څوک وکولی شي استفاده تری وکړي او په موضوع وپوهیږي.

که څه هم ژباړه یو ډیر درووند مسؤلیت دی او دا چی زه به د ژباړی په جریان کی تر کومه حده توانېدلی یم چی د مسایلو اصلي پانګه تاسو ته وړاندی کړم خو ډاډه یم چی په پښتو ژبه د فلسفې اړوند لیکنو د نه شتون په وجه دا او دی ته ورته نوری ژباړی نه یوازی چی دوخت ضرورت دی بلکی د راتلونکو نسلونو یو قرض دی چی په خفګان سره باید ووایو چی اوسنیو لیکوالانو او ژباړونکو په مناسبه توګه دغه قرض نه دی ادا کړی او یا تر اوسه پوری دی ته متوجی شوي نه دي.

زه یو ځل بیا وایم چی ژباړه یو درووند مسؤلیت دی چی هم د لیکوال او هم د هغو کسانو پور راپه غاړه کوي کوم چی ته غواړی د لیکوال خبری په عینی شکل وروړسوی زه یې مخکی له مخکی د نیمګړتیا او کمزوری بخشش غواړم.

د یو آباد او علمي افغانستان په هیله

محمدامین رنځور

جلال آباد ۱۳۸۸هـ ل د حمل د میاشتې پینځلسمه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فلسفه څه شی ده؟

فلسفه د هغه مسایلو مطالعه ده چې ډېر پراخ او جنجالي وي دا مسایل په ماهیت، وجود، معرفت، اخلاق، دلیل او د انسان په هدف پورې تړلي دي. په فلسفي پوهنتون کې دا موضوع په مختلفو ښاخونو تقسیمېږي چې اصلي څانګې یې عبارت دي له مابعدالطبیعه، اخلاقي فلسفه، سیاسي فلسفه، علمي فلسفه او منطق.

### مابعدالطبیعه: د وجود او پیژندګلوۍ مطالعه

د ارسطو د آثارو یو راټولوونکي اندرونیکوس دغه نوم د ارسطو د فلسفې په یوې برخې کېښود، خپله ارسطو دغه برخې ته فلسفه اولی نوم ورکړی وو له فلسفه اولی نه د هغه مقصد بنیادي یا مهمه فلسفه وه، فلسفه اولی یا بنیادي فلسفه له ذات وجود، ذات علیت، او ماهیت شناخت څخه عبارت ده. اندرونیکوس د ارسطو د آثارو د راټولولو په وخت د فلسفه اولی له مربوطه رسالې طبیعیات څخه د مابعدالطبیعه فلسفې نوم راخیستې ده هغه طبیعیات د یو کتاب په بڼه راټول کړل او مابعدالطبیعه یې ونوموله یعنې هغه برخه چې طبیعیات وروسته ده.

ما بعدالطبیعه له هستئ پیژندنې څخه تشکیل شوې ده هستي پیژندنه د ذات وجود، ذات تکوین یا پیدایښت، معرفت پېژندنې یا د همغه شناخت نظریې مطالعې ته وايي. لیکن د ذهن، روح، خدای، زمان، مکان او اختیار مسایل هم تر بحث لاندې نیسي. دا په دې دلیل چې د معرفت او وجود پوره تحقیق ځینې نور مسایل هم په بر کې نیسي کوم چې په همدې مطالعې پورې اړوند دي.

### اخلاقي فلسفه: د ارزښتونو مطالعه

د Ethecs اصل منشأ یوناني کلمه ده چې د منش او رفتار مانا ورکوي لیکن له اولسمې پیړۍ راپدیخوا په انګلیسي کې د اخلاقیاتو د علم د مطالعې په مانا استعمالیږي. نن ورځ اخلاق دوه متفاوتې ماناوې لري اول کولی شو اخلاق هغه نظریه وبولو چې د عقلاني سرچینو د نظریې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعه او بررسي کوي او اخلاقي اصول توجیه کوي دوهم دا چې اخلاق د خاصو اصولو هغه رفتار ته ویل کیږي چې د متخصصو او عادي افرادو د قبول وړ وي. د اخلاقو له ګڼو څانګو څخه طبي اخلاق، تجارتي اخلاق او کاري اخلاق بالخصوص د یادولو وړ دي. د اخلاقیاتو علم اخلاقي اصول، نیکبختي، عدالت، شجاعت او په ټولیزه توګه د ارزښتمندو او بی ارزښته خصلتونو څیړلو ته ویل کیږي.

### سیاسي فلسفه: د دولت او رعیت مطالعه

سیاسي فلسفه د دولت او رعیت تر منځ مسایل شاربي، لیکن په جزیاتو او د حکومتي لوړو ژورو او د مشرتابه په طریقو ډېر نه غږیږي بلکې کوشش کوي چې دا سوالونه وڅیړي:

- ✓ ولی انسان باید د حکومت تابع وي آیا له ډار او ترس پرته بل کوم دلیل د اطاعت د منلو لپاره شته؟
- ✓ آیا موږ دولتونو لرلو ته اړتیا لرو یا د دولتونو له شتون پرته به لا د بهتر وضعیت لرونکي یو؟
- ✓ آزادي څه شی ده او رعیت تر کومه حده آزادي لرلی شي او تر کمه حده باید له آزادۍ برخمن وي؟
- ✓ برابري څه شی ده او آیا خوښوونکی ده؟

د اوسنۍ پیړۍ په لومړنۍ نیمایي کی فیلسوفانو د دولت او رعیت له مسایلو سره ډیره کمه علاقه درلودلی ده، تر دغه وخته دا موضوع مکرراً د فلسفی د یوی مهمی برخی په توګه لیدل کیده. د افلاطون له وخته ټولو هغه کسانو چې فلسفي مخکښې متفکرین وو سیاسي فلسفه د خپلو لیکنو په سر کی راوستی ده، په خپله افلاطون هم په دی باب دوه غټ آثار چې جمهوري او قوانین نومیږي لیکلي دي.

ارسطو هم د سیاست په نامه قوي کتاب لیکلی دی آګستاین د خدای ښار په نامه کتاب لیکلی. توماس آکویناس د دولت او رعیت حقوق او وظایف کتاب ولیکه. توماس هابز هم د لیویاتان په نامه لیکنه کړی ده. جان لاک د مدني حکومت په نامه لیکل کړي دي چې د پام وړ کتاب دی. ډیویډ هیوم د تاریخ او سیاست په نامه مطلب ولیکه. او همدا راز د معاصرو فیلسوفانو له ډلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا برخه یې له پامه نه ده غورځولې هیګل، بینتم، جان سټوارټ میل او په ځانګړې ډول کارل مارکس یادولی شو.

**دعلم فلسفه**

د فلسفي مسایلو د وجود تصور چې په نظام منديځ علومو پورې منحصر دي نسبتاً نوی تصور دی، دا چې اوسمهال د علم د فلسفې په نامه یادیږي تر نولسمې پیړۍ پورې یې د معرفت د نظریې یوه برخه تشکیلوله. د نولسمې پیړۍ ځینې فیلسوفان لکه جان سټوارټ میل دا د منطق د یوې څانګې یعنې استقرایي منطق په توګه تر بحث لاندې نیولې ده.

اوسمهال د علم فلسفه د فلسفې د یو ځانګړي شاخ په توګه شمېرل کیږي او په همدې عنوان په اکثره پوهنتونونو کې ځینې وخت د علم محصلینو او ځینې وخت د فلسفې محصلینو او ځینې وخت هم دواړو ډلو ته تدریسیږي. دعلم فلسفه غالباً د علم د تاریخ تر څنګ شمېرلې شي. د فلسفې د علم اکثره لاروي چې کله شروع کوي لومړی یې د خپل تحصیل ژوند له علمي فلسفې شروع کړی او وروسته یې فلسفې ته مخه کړې ده. د فلسفې مسایل چې د علم مربوط دي د هستۍ پیژندنې په مسایلو ورګډیږي یعنې د واقعیت په باره کې مسایل لکه د جاذبې قوه، مقناطیسي قوه او الیکټرونونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منطق: د استنتاج او دلیل فلسفه

د منطق د کلمې ریښه له یوناني کلمې لوگوس څخه اخیستل شوی ده چی د فکر یا دلیل په مانا ده او احتمالاً داسی ده چی ځینی وخت منطق د فکر د قوانینو د مطالعی په توگه تعریفیږي لیکن ارسطو چی ددغی موضوع بنیادگزار دی منطق یې د دلایلو د مطالعی په نامه توصیف کړی دی.

له دی ټولو سره داسی هم نه ده چی د هر استدلال هدف دقیقاً د یو شي ثابتول دي بلکی د ډیری استدلالونو هدف دادی چی یو شی احتمال لري. د منطق بهترین تعریف عبارت دی له (منطق د کامل استدلال هغه مطالعی ته وایي چی په صحت او عدم صحت پوری رابطه لري)

ځینی فیلسوفان وایي چی منطق باید حقیقت هم د صحت غوندی تر مطالعی لاندی ونیسي لیکن حقیقت له صحت نه ډیره پراخه موضوع ده.

## د فلسفې نوری څانگې

که څه هم په دی کتاب کی زموږ هدف دا وو چی تر ممکن حده دغه لیکنه د فلسفی په باب جامع واوسي لیکن بیا هم موږ به اختصار بسنه وکړه او د فلسفی ډیری څنگی مو ناویېلی پریښودی. په دی وجه موږ د ریاضیاتو فلسفه، د ژبی فلسفه، د حقوقو فلسفه او د هنر یا ښکلاپېژندنی په فلسفه خبری ونکړی. دلیل یی هم دادی چی دغومره اوږد بحث په دومره کوچنۍ لیکنه کی نه ځاییږي او د یو جامع بحث لپاره قوي اثر لیکلو ته اړتیا ده چی لوستونکي له پورته یادو او ورته نورو برخو سره له مخکی بلدتیا ولري.

په ټولیزه توگه د فلسفی مطالعی ته له دوه لارو دوام ورکولی شو: یا خو فیلسوف غواړي چی جنجالي مفاهیم تعریف او تحلیل کړي او د ثبوت لباره یې اعتمادي سرچینی استعمال کړي تر څو انتزاعي او جنجالي تصوراتو ته چی د فلسفی اصلي مسایل دي او د فلسفی د توجه وړ دي تشریح او توضیح پیدا کړل شي. د فلسفی دغه دوه انواع عبارت دي له تحلیلي او (Continental)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن باید ووایو چې دغه دوه عنوانونه چندان دقیق نه دي. اوس وخت کې تحلیلي فلسفه د شلمې پیړۍ د انګلیسي فیلسوفانو ګیلبرټ رایل، جي ایل آونسټین او جي آنسکام او امریکایي فیلسوفانو لکه ډونالډ ډیویډمین، هیلري پانټام او سایول کریپکي په نومونو پورې تړل شوې ده. خو بلخوا کانټینینټل فلسفه د جنوبي امریکې او اروپا په ځینې برخو کې تر سترګو کیږي. دا فلسفه د فلسفي نظامونو د بنسټګرانو لکه هیګل، شوپنهاور، مارکس او په دې وروستیو کې د ځینې افرادو لکه سارتر، هابرماس او ډریډا په نومونو پورې تړل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په ژوند د فلسفې تاثیر

فلسفه په انساني ژوند کی هم د اصولو او قواعدو له مخی او هم د ژوند پرمختګ او باریکیو د لا ښه پېژندلو لپاره یو بنیادي اصل ده. فلسفه چی د نړۍ د مشهورو مفکرینو په نظریاتو او لرلید ولاړه ده معمولاً هغه مسایل شاربي چی ډیر جنجالي او پیچلي وي که څه هم فیلسوفان د فلسفې د مختلفو قواعدو په اړه موافقتونه او مخالفتونه دواړه لري خو بیا هم فلسفه د انساني ژوند د پرمختګ بهترینه لار وه. مختلف ممالک د مختلفو نظریو پلوي کوي او لا تر اوسه یې بریالۍ تطبیقوي چی د مثال په ډول اوسنی قوي او پرمختللی انګلستان هم د یو مشهور مفکر د نظریاتو پایله بللی شو.

### د فلسفې په اړه پراخ او تنګ نظرونه

د تاریخ په مختلفو دورو کی فیلسوفانو د دوئ د څېړنی لاندی موضوعاتو ته کله په ډیره ژوره توګه کتلي دي او کله کله یی هم ډیر تنګ نظر ښودلی دی. بلخصوص د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کی فلاسفه وو د بحث موضوعاتو ته په نسبتاً تنګ نظر کتلي دي، لکه د آکسفورډ فلسفه چی د وین د حلقي پوزیتویزم او د ژبو د تحلیل ترکیب چی د موضوعاتو په اړه محدودیت توصیه کوي. او شاید چی همدغه امر په شلمه پیړۍ کی د علم د پرمختګ د مخنیوي باعث شوی وي.

په ۱۹۵۹ میلادي کال ارنست ګیلنر په خپل کتاب (کلمات او اشیاء) کی ډېر کلک انتقادونه وکړل. ګیلنر ادعا وکړه چی حتی مسلکي فیلسوفانو په اکسفورډ کی په خپلو څېړنو کافي وخت نه دی لګولی. او هغه څېړنی چی دوئ کړي دي د مابعدالطبیعي فلسفې له سیاست، اخلاقیاتو او د ژوند له واقعیت سره هیڅ اړخ نه لګوي. هغه وخت د ګیلنر انتقاد د چا غوږ ته کوز نشو مګر وروسته فیلسوفانو د مابعدالطبیعي فلسفې د سوالونو تحلیل ته مخکه کړه او دا مهال د هغه کسانو شمېر کم نه دی چی د ژوند په واقعیت لیکنی او فکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۷۰ میلادي کال استرالیایي فیلسوف پیټر سینگر د (حیوان آزاد) په نامه کتاب ولیکه. شاید دا د نړۍ په تاریخ کی لومړنی فلسفي کتاب وي چی د حیواناتو د حلالې د ځایونو (مسلخونو) عکسونه پکی وو. ددی کتاب یو عنوان (دبی غوښې خوړو د پخلي طریقی) باعث شو چی ډیر لوستونکي یې وښو خوړو ته مخکه کړي. همدا راز نورو فیلسوفانو جي آنکام له بارداریٔ نه مخنیوی، ستیفن کلارک د حیواناتو حقوق، فیلپافورټ ترحمي قتل، جوډیس ټامسن د سقط جنین او امارتیاسن د اقتصادي علم او فلسفې په اړه کتابونه ولیکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ګټه او اخلاقي اصول

اخلاقي پایله هغه نظریه ده چې وایي کړنې باید د هغې پایلو ته په کتو تر تعقیب لاندې ونیول شي، ددې نظریې مهم قسم Utilitarianism یا فایده‌ګرایي ده او د فایده ګرایئ مشهور فیلسوفان عبارت دي له ,John Stuart Mill , James Mill او Jermey Bentham.

د یوټیلیټرنیزم فلسفه هیڅ خاص اخلاقي اصل ته اړتیا نلري ددې په ځای یوټیلیټرنستان دا نظریه اختیاروي چې هر هغه عمل چې د یو انسان د نیکمرغۍ سبب ګرځي د عملي کېدو دی او ټول هغه موارد د ارزښت وړ دي چې د انسان د ګټې سبب ګرځي.

بل پلو کانت د یو ټیلیټرنیزم په ضد تر ټولو مخکښ او مشهور فیلسوف دی، کانت وایي په نیکمرغئ پسې تر شا زغلېدل بې فایدې دي ځکه کیدای شي موږ په دې کې له ناکامئ سره هم مخ شو، او که نېکمرغي ذاتاً د ارزښت وړ وي نو کله چې مضر اشخاص په نړئ کې پرمختګ کوي نېکمرغه اشخاص به د ناراحتۍ احساس وکړي. همدا راز کانت په دې نظر دی چې په نړئ کې یوازینی ارزښتمند شی د نیکئ اراده ده او نېکه اراده عبارت ده له (د هر هغه کار د ترسره کولو لپاره تمایل او عزم چې نېک وي) د کانت په نظر دا یو معقول اصل دی او هر عاقل موجود کولی شي پیروي ترې وکړي ځکه انسان ته په کار دي چې تل روغ او ریښتینی اوسي حتې که په دروغو تاسو ته یوه ستره ګټه هم لاسته درځي نو باید پرهېز ترې وشي.

که د کانت نظریات وپلټل شي نو تر ټولو ډیره توصیه پکې ددې لیدلی شئ چې ریښتیني اوسئ، روغ کارونه کوئ، د دروغو وعدې مه ورکوئ، سخاوت کوئ د نیکۍ غوښتونکي اوسئ خپل استعدادونه عبث مه ضایع کوئ په حیواناتو مهربان اوسئ، هیڅکله ځانوژنه مه کوئ.

اوس راځو په مقایسوي ډول دواړه نظریات سره پرتله کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی نمونه: فرض کړئ یوه مېرمن په یوه جزیره کی د مرگ په حال کی ده او په دی جزیره کی د هغی یوه وریره ده چی فرشته نومیږي هغه خپلې وریری یعنی فرشتی ته وصیت کوي چی ټول مال یې په یوه نیکه لاره کی ولگوي فرشته وعده ورسره کوي چی د هغې ټول مال به د یو لوبغالي په جوړېدو کی لگوي کله چی دغه مېرمن مړه کیږي او فرشته له جزیری نه ابادئ ته راځي او هغه گوري چی د خپلی ترور پیسې په همدغه لوبغالي مصرف کړي خو یو وخت پوهیږي چی د ماشومانو یو هسپتال د پیسو د نشتوالي له امله خراب پروت دی اوس فرشته خپل نیت بدلوي او د لوبغالي لپاره ځانگړی شوی پیسی د کوچنیانو په روغتون لگوي. اوس آیا فرشته په خپل قول وفاداره پاتې شي ؟

دلته د کانت د نظریې پیروان وایي چی بلی فرشته باید په خپل قول ثابته پاتې شي ځکه چی وعده ماتول سم کار نه دی فرشته باید په خپل اصل وعده کلکه پاتی شي ځکه که هغی نه غوښتل له اوله به یی وعده نه کوله. له بل پلوه یوټیلیټرنستان وایي چی هر څه په دی پوری تړلي دي چی وپوښتل شي چی آیا د لوبغلي په جوړېدو انسان ته زیاته فایده رسیږي او که د هسپتال، که لوبغالی مهم وو نو په خپل قول دی ودریږي خو که روغتون انسان ته له هغې زیاته گټه درلوده نو باید خپله وعده ماته کړي؟

دوهمه نمونه: د هند په کلکته ښار کی د تیریسیا مور خپل ټول عمر د مرگ په وخت کی د بی وسه او بی کسه خلکو په خدمت تېر کړ، د فایده باورانو په باور ددی کار فایده ډېره کمه ده د یو فایده باور د محاسبې له مخی د تیریسیا مور ته په کار دي چی خپل عمر د ژوندیو خلکو د خدمت لپاره وقف کړي ځکه د مړه کیدونکو کسانو په نسبت د ژوندیو مرسته کول مهم دي.

دریمه نمونه: داسی وگڼئ چی د بولیسو اداره له ډېره وخته د قاچاقچیانو د یو گروپ په لټه کی ده خو نده توانېدلی چی کومه نښانه او سند یی په اړه بیامومي، یوه ورځ د قاچاقچیانو یو ملگری د پولیسو اداری ته ورځي او د باند د غړو د نیولو لپاره ټول مهم اطلاعات ورکوي ددی کار انگېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پخوانيو کړنو د هغه د پښېمانۍ احساس نه دی بلکې د هغه او د ملګرو تر منځ داخلي اختلافات دي نو پولیس باید څه وکړي؟

د یوټیلیټرنسټ په نظر باید هغه ته مصؤنیت ورکړل شي ځکه د ټولنې د اکثریت منافع په بله هره ملاحظه بهتري لري، خو کانت به د مخبر د پخوانيو جناياتو په وجه د هغه په مجازات ټینګار وکړي. اصلاً د کانت نظریه په دی ولاړه ده چی که اسمان راپریوځي هم د حقايقو په تعميل کی باید سستي ونشي مثلاً په هيڅ وجه باید دروغ ونه ویل شي که څه هم د هغه دروغو په ویلو تاته ګټه حاصلېږي.

دلته موږ یو ټکي ته په دقت کولو مجبوریږو د مثال په ډول: تاسو د نازیانو له وېرې څو تنه یهودانو ته په خپل کول کی پنا ورکوئ خو شپبه وروسته نازي عسکر د یهودانو د پلټنې په جریان کی ستاسو کور دررسیږي آیا تاسو نازي عسکرو ته وایئ ی څو تنه یهودانو ته مو به خپل کور کی پنا ورکړی څو هغوئ یې د وژلو کندی ته بوځي او که په دروغ ویلو به د څو تنه بېګناه کسانو ژوند ژغورئ؟ - په داسی حال کی چی تاسو مجبور یئ چی د یوی قاعدی په عملي کولو سره هغه بله قاعده نقض کړئ. خو داسی ښکاري چی یوټیلیټرنیزم هم ګڼ عیبونه لري، که فرض کړو چی د نېکمرغۍ ترلاسه کول د ژوند مهم او حیاتي اصل دی او موږ ټول کوشش کوو چی په خپل ژوند کی نېکمرغي ترلاسه کړو خو دا چی نېکمرغي تل له مشروع لارو نه ترلاسه کیږي او کله کله موږ د نېکمرغۍ د ترلاسه کولو لپاره د نامشروع لارو کارولو ته اړ کېږو نو آیا دا به مناسبه وي چی د یو مطلق ارزښت لپاره چی ترلاسه کول یی تر بل هر څه اړین دي له نامشروع لاری کار واخلو؟ - یا د خپلی ګټې لپاره ریښتیا پټ کړو او دروغ ووایو؟

د رابرټ نازیک په اند چی د فایده ګرایۍ په ضد یو بل نوموتی فیلسوف دی ((فایده باوري موږ ته امر کوي چی ګټو ته په حقايقو ترجيح ورکړو هغه وایي په حقیقت کی انسان ته پکار ده چی تصادفي حقیقت ته په نامشروع خوشالۍ بهتري ورکړي او دا د اخلاقو بنیادي اصل دی)). د فایده

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورئ یو بل مشکل دادی چی موږ ته امر کوي چی خپل اخلاقي فعالیت یوازی تر هغو کسانو محدود کړو کومو ته چی په اسانۍ لاسرسی لرلی شو او له هر هغه چا څخه صرف نظر شو چی کومک ورسره مشکل دی.

جي مور (G,mor) ددی سوالونو لپاره یو مناسب ځواب وایي هغه څرګندوي ((دبدبختیو مخنیوی له دی ډیر مهم دی چی د خوشبختیو لټون دی وشي او که لږ یې واضحه ووایو ددی نظریاتو تایي یوازی د یو سالم عقل په فیصله سره کیدلی شي)).

بلاخره نه د کانت نظریه او نه هم د ستوراټ میل او د ملګرو نظریه یې د عوامو خلکو د صحت او تایید وړ دي ځکه چی سوال پیدا کوي چی ولی باید یو ساده نظریه لکه چی وایي د نېکمرغئ نظریه د مطلق ارزښت قابل ده د عملي کېدو وړ وي؟ - آیا موږ د جي مور د کټګورئ په شکل یوه بله درمیانه نظریه نشو څېړلی؟ - نو په پایله کی دی نتیجی ته رسېږو چی د نیکۍ لور ته تمایل تر ټولو باوري اصل دی خو تر څنګ یی په یو خاص اصل کلک درېدل هم معقوله خبره نه ده او دا په هغه صورت کی چی په همدغه خاص اصل ټینګار د یو انسان په زیان تمامېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مارکس او مارکسیزم

د کارل مارکس عقل چې د چک هیگل د مابعدالطبیعي او د ریکاردو له اقتصادي څواکمنو نظریاتو قوت اخلي د نولسمی پیړۍ د صنعتي انگلستان په رامنځته کولو کی ټاکونکی رول درلود.

د شلمې پیړۍ د نړۍ په سیاسي او کلتوري نقشه کی د مارکس د افکارو تاثیر تر بل هر متفکر زیات وو، خو مارکس واقعاً په څه عقیده وو ؟ - مارکسیست فلسفه چې لړترلړه تر همدې وروستیو پوری د نړۍ ډیرو هېوادو پری د وفادارۍ سوگند یاداوو دقیقاً څه شی ده ؟- دی سوالونو ته موثق ځوابونه حتی که موجود هم وي په دی کوچنۍ لیکنه کی یې ځایېدل ناشوني دي، په دی سربېره د لومړني مارکس (چې د الماني ایدیالوژۍ لیکوال وو) او وروستي مارکس (چې د سرمایه دارۍ د بنسټ لیکوال وو) تر منځ د ظاهري ناهمغږۍ تاثیراتو هم دا مسئله له مشکل سره ممخ کړی ده. له بلی خوا هغه کسان چې مارکسستان نه دي خو د نظریاتو پوهېدلو یې علاقه‌مند دي د کتابونو د چاپ په وخت د مارکس د خاصې ژبی د کارونی له امله د مارکس به سیاسي او اقتصادي استدلال نشي پوهېدای او لا یې پېچلي موارد سختوي. دلته موږ غواړو چې د کارل مارکس افکار په یوه داسی طریقه تاسو ته توضیح کړو چې نه خو ډیره ساده او توهین آمیز وي او نه هم ډېر مغلق او پیچلي.

کله چې مارکس د ټولنو په اړه بحث پیلوي هغ معتقد دی چې د یوی ټولنی سیاسي کلتوري او حقوقي وضعیت د هغه ټولنی د اقتصاد په څرنگوالي پوری تړلی دی، لکه چې مخکی مو وویل مارکس د نورو روښانفکرانو غوندی د هیگل له تاریخي او فلسفي دیدگاه نه متأثر وو، له هیگل سره د مارکس دغه علاقه د هغه له کتاب د روح بنسټ پېژندنی پوری تړاو لري، مگر د ۱۸۴۰ م په اوږدو کی هغه په دی باور وو چې د ټولنو تشکیل کوم روحي تړاو نه سره لري. دلته وو چې هغه خپل لومړنی نظر تغیر کړ او د یو بالغ نظر په توگه یی دوهم مسیر تر تعقیب لاندی ونیو او همدا ځای د هیگل او مارکس د نظریاتو د بیلتون پیل وو. مارکس تر دی وروسته یو بل پړاو ته مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې اوسمهال يې خلک ډیالیکټیک ماتریالیزم بولي. د مارکس په اند د يو دولت داخلي جوړښت د همغه دولت د توليدي قوی په رشد او تکامل پوری اړه لري او ددی لپاره چې وپوهېږو يو دولت څنګه اقتصاد لري اړينه ده چې د همغه دولت د داخلي کلتوري او حقوقي موقف په څرنګوالي ځان خبر کړو.

مارکس د پرمختګ مراحل د مالکيت په بېلابېلو انواعو پوری تړلي بولي. د مالکيت له اقسامو د همغه وخت يو مشهور قسم لومړنی اشتراکي مالکيت دی خو وايي اشتراکي مالکيت په هغو ټولنو کی د تطبيق وړ دی چې هلته د توليد پړاو تر اوسه نه دی تکميل شوی او د ټولنی اقتصاد په مالدارئ او کرنی تکيه وي.

د مارکس په فکر فيوډالېزم ټولنه په طبقاتي ژوند ويشي او تر ټولو او دوه طبقی رامنځته کوي چې يوه يی هم ځمکوال او دوهم يی بی ځمکی طبقه وي او دا حالت ټولنه پانګوالئ ته راکاږي. په پانګوالئ کی هر چيرته چې راکړه ورکړه ډيره وي هلته د پانګوالو او تجارانو ظهور کيږي هغه طبقه چې د ځمکوالو له طبقی سره کاملاً متفاوته ده او دا د مالکيت دريم قسم بلل کيږي.

سرمايه داري يا پانګوالي د يوی بلی طبقی د زيږندی او حتی د کاميابۍ يوه پوړۍ ده چې د کار ابزار په کنټرول کی لري لکه کارخانی بانکونه شرکتونه او نور... دا طبقه چې له پانګوالۍ سره اوبدلی طبقه ده بوژوازي بلل کيږي.

د مالکيت پينځمه مرحله سوسياليزم ده مارکس متعقد دی چې په ټولنه کی د کاري ځواک او روښانفکرۍ په زرغونېدو سره د سوسياليزم عملي کېدل ممکن شي. پرولتاريا يعنی ټيټ پوړی صنعتي ځواک د کمې مزدورئ په مقابل کی کار کوي او د دوئ په کم معاش کار کول د هغوئ د اربابانو يعنی بورژواز طبقی د چاغښت او سرمايه کيدلو باعث ګرځي. البته پرولتاريا د خپل ژوند د تضمين په خاطر کار کولو ته اړتيا لري او دا يوازی بورژواز طبقه ده چې دوئ ته کار او معاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولی شي که څه هم د دوئ مشران د کارګرو کار کولو ته اړ دي خو په متناسب ډول د پرولتاريا اړتيا تر بورژواز هغی زياته ده.

د مارکس په نظر سوسياليستي انقلاب هغه وخت بريالی کيدای شي چی کله کارګره طبقه ځان تر خپلو اربابانو قوي احساس کړي دا وخت کارګره طبقه د کار ابزار په خپل کنترول کی راولي عيناً هماغسی چی پانګوالي د بورژوازۍ په کاميابۍ کی لاس لري سوسياليزم هم کولی شي کارګر په خپلو بادارانو برلاسي کړي. مارکس سوسياليزم له زوال څخه خالي نه بولي هغه اټکل کوي چی د کمې پاملرنی په صورت کی سوسياليزم ډير ژر له خپل منځ نه نړيدلی شي او د پرولتاريا ديکتاتوري د دغه مرحلی د پرځولو تر ټولو لومړنۍ نښه بولي. د مارکسيستي نظريې په بنياد د انسان د تکامل نکته هغه وخت ترلاسه کيدلی شي چی په دغه ديکتاتورۍ غلبه حاصله شي چی په پايله کی به يی نه شخصي مالکيت وجود ولري او نه هم طبقاتي اختلافونه

مارکس يا بل هيڅ کس دا نه ده څرګنده کړی چی کميونستي چوکاټ له څه شي سره شباهت لري، مارکس په لومړي عبارت کی يو جنت ترسيموي چی خلک خپل زيات وخت په شغل او تفريح مصرفوي په نورو توصيفاتو کی د مارکس د ښار ارمان په نوم مفکوره چی هلته انسانان يو بل نه استثماروي او هيڅ ډول طبقاتي ژوند وجود نلري او هيڅ فساد او ټولنيز مشکلات نشته.

يو مبهم بحث دادی چی آيا کارل مارکس متعقد وو چی ټولی ټولنې بايد لومړنۍ اشتراکي مرحله غلامي، سرمايه‌داري، سوسياليزم تر کميونيزم عملي کړي او که څنګه ؟.

شواهد وجود لري چی ښيي مارکس هيڅکله ټينګار نه کاوو چی د خپل ښار ارمان ته د رسيدو لپاره غير کمونستي ټولنی هم خپل دغه نظريې عملي کېدو ته راکش کړي. مارکسيزم وايي يوازی يو خشن انقلاب کولی شي تحميلي حکومتونه له منځه يوسي. مارکس باوري وو چی ددغه حکومتونو په خلاف کامياب انقلابونه کولی شي پرولتاريايي دولت منځته راوړي او هلته به هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دولت چې موږ یې د مستبدو او منفورو دولتونو په توګه یادونه کوو وجود نه لري. پرولتاریا دولت به ډیر ژر له منځه لاړ شي او خپل ځای به کمونیزم ته وسپاري مګر تاریخ ثابته کړې چې پرولتاریا دولتونه په اسانۍ او لنډه موده کې له منځه نه ځي بلعکس دا داسې حکومتونه دي چې پنجې یې د انساني ژوند هر کونج ته په اسانۍ رسیږي. بناً مارکسیستي نه انارشیزم منځته راوړي او نه هم ازادي. خو په پایله کې دا خبره هم یادولې شو چې که جګړییز انقلاب په هر علت وي په نړۍ کې یو ناکاره او خطرناک سیاست بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اقتدار او بی دولتي

ډیری خلک به انارشي یا بی دولتي د اجتماعي کړکېچ او خشونت په توګه تلقي کوي که څه هم د انارشیزم نظریې پلویان دا نه وایي چې ګډوډي د هغوئ مطلوب هدف دی بلکی انارشیستان وایي چې که چیرته هیڅ دولت نه وای د انسانیت وضعیت به لا بهتر شوی وای، دوئ د ټولنی د نظم لپاره ځینی ساده لاری چاری ښیي. د پي جي پروډن په څېر اشخاص فکر کوي چې ټولنیزه ګډوډي او کړکیچ عادي انسانان منځته نه راوړي بلکی دا دولتونه دي چې مشکلات یې پیدا کړي دي. له حکومت نه د پروډن تعریف په دی ډول دی چې: د حکومت تر واک لاندی اوسېدل مساوي دي له نظارت لاندی اوسېدل، پوښتل کیدل، لارښوونه کیدل، قانوني کیدل، کنټرولېدل، مهار کېدل، ارزیابي کېدل، تحقیرېدل او محکومېدل دداسی مخلوقاتو له لوري چې نه ددی کار مناسب عقل لري نه په نورو انسانانو کوم فضیلت لري او نه هم ددی کار حق لري.

### ښی او چپ انارشېزم

کیڼ اړخي انارشیستان د نولسمې پېړی له اشخاصو مثلاً پرینس کرویتکېن څخه عبارت دي. دوئ عقیده لري چې بی دولته ټولنی د یوی ډیموکراتیکی داوطلبانه همکارئ په پایله کی راتلی او ټینګېدای شي. شخصي دارایي به له شخصي لوازمو په استثنی یا ډیره کمه وي او یا به بلکل موجوده نه وي ځکه چې زراعت او د تولید منابع به د خلکو تر عمومي کنټرول لاندی وي.

ښي اړخي انارشیستان د نوی سیاسي نظریې ښانګه ده چې ځینی وخت د سرمایه‌دارو ازادي غوښتونکو په نامه هم یادېږي. سرمایه دار ازادي غوښتونکي د ډیری کمی فیصدئ دولتي نظم غوښتونکي دي  مګر ډېر کم له دغی ډلی نه بلکل دولت نه غواړي، ښي اړخي انارشیستان یا د هغوئ نژدی کړی یو داسی وضعیت ته سترګی په لاره دي چې هلته به سرمایه دار سیستم ځواب ورکوونکی وي بلکی یو څه به ښارنې پرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوئ وايي سرمايه داري د ټولنې د ټولو افرادو لپاره درنه ګټه راوړي او بلعکس قوانين او ماليات د خلکو دغه عمومي ګټه راکموي. دوئ وايي که چېرته مخالف قوانين او ماليات د توليدي منابعو د انحصار او محدوديت حق له منځه لېرې کړي په دې توګه د سرمايه دارۍ طبيعي نظام بلکل خپلواک کېدلی شي.

**آيا کولی شو دولت له منځه يوسو ؟**

فرض کړئ موږ فکر کوو چې حکومتونه يو بد شی دی څنګه به وکولی شو ځان ترې خلاص کړو؟- موږ واقعاً نشو کولی چې ترې خلاص کړو ځکه د ځمکې د مخ هر ځای د يو ملي دولتي قلمرو حصه ده. په تېر کې کېنې اړخو انارشيستانو باور درلود چې يوازينۍ د خلاصون لار د دولتي لوړپوړو اشخاصو ترور او يا يو ټولنيز انقلاب دی چې دلته بايد د يوی مهمی استثنا يعنی ګاندي نوم واخلو، ګاندي يو کېڼ اړخی انارشيست وو هغه ويل چې بهترينه ټولنه هغه ټولنه ده چې د کوچنيو محلي ګروپونو په داوطلبانه همکارۍ ولاړه وي مګر هغه د هر قسم ګډوډۍ او زورزياتي مخالف وو ددی په ځای هغه د منفي سوليز مقاومت په پلوۍ ټينګار کاوو.

ښي اړخي معاصر انارشيستان (سرمايه داران) غيرانقلابي لاری چاری توصيه کوي ددوئ ځينی متعقد دي چې کولی شو په سياسي ديموکراتيکو وسايلو دولتونه له منځه يوسو. او يو شمېر نور يی فکر کوي چې هر څومره دولتونه زموږ په روزمره ژوند کنټرول زياتوي په همغه اندازه لا بې کفايته کيږي او ناکاره کيږي چې په نتيجه کی يې خودبخوده پاشل کيږي او له منځه ځي نو په دی توګه اړتيا نشته چې له خشونته ډک بدلون ته لمن ووهو.

ځينی داسی هم شته چې د سياسي مشرانو د سياست په بدلولو ټينګار کوي، انارشيستان بايد کوشش وکړي چې عاقل اشخاص او هغه کسان چې د نفوذ خاوندان دي لکه جنرالان او تجاران دولت سره له همکارۍ زړه توري کړي او کله چې دغه متنفذينو انارشيزم ته پنا راوړه دولت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله له منځه ځي. خو دا چې آیا حکومتونه له دیموکراتیک پلوه پرځول ممکن دي ؟- په دی نظر اتکاء چندان معقوله نه ده. عثماني لویه امپراتوري چې د مؤرخانو له نظره فوق‌العاده بی کفایته او فاسده وه کله چې له ځو سوه کاله دوام وروسته وپرځېده بی دولتي یی منځته رانه وړه بلکی د عثماني امپراتورۍ له نړېدو وروسته کوچنی خو مضبوط دولتونه رامنځته شول چې تر ډېره صالح او له فساده پاک حکومتونه وو.

دا چې موږ ولی دولتونه لرو او ولی باید د دولتونو تر حکم او قوماندی لاندی کار وکړو ددی سوال ساده ځواب دادی چې هر هغه څه چې طبیعي دي نه تری تېرېدل ښه خبره ده او نه هم طبیعت د حل د یوازینۍ لاری په توګه منل معقوله ده. ځینی خلک وایي د بشر لپاره هر څه چې ممکن دي طبیعت بلل کیږي فکر کوو چې دا مفکوره تر یو حده افراطي ده ځکه انسان په خپل ژوند کی متواتر بدلون ته اړتیا لري او د بدلون لپاره په طبیعت کی انساني دخالت ته اړتیا ده. بلخوا هر هغه څه چې دا مهال یې موږ طبیعي بولو او انسان ته پکی لاسوهنه ممکن نه ده غیرطبیعي بلل منصفانه خبره نه ده.

توماس هابز چې د انګلستان د داخلي جنګونو په موده کې یې ژوند کاوو وایي: دولت د بشریت له طبیعي حالت سره هیڅ رابطه نه لري هغه په دی باور دی چې د بشر خپل اصلي حالت ډېر وحشي او خطرناک دی خلک دولتونه تاسیسوي چې له خپل طبیعي وحشي وضعیت نه وتښتي. هابز وایي لومړنی دولت د یو قرارداد په پایله کې رامنځته شو چې خلکو توافق وکړ څو یو پاچا وټاکي او مطلق قدرت به له هماغه سره وي او ددی قرارداد اصلي هدف د اقوامو او اقشارو ترمنځ سوله قایمول وو. هغه ټینګار کوي چې سوله د یو دولت د رامنځته کولو لومړنی شرط دی او سوله هغه وخت راتلی شي چې کله حاکمان د قدرت مطلق واکمنان وي هغه د واک تقسیم او محدودیت د کورنیو جګړو د پیښیدو اصلي علت بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دولت او طبیعت په اړه د هابز نظر د فیلسوفانو تر نیوکی لاندی راغلی چی له دغه معترضینو څخه یو مشهور یې هم جان لاک دی لاک وایي انسان طبیعي مسلم حقوق لري، د ازادۍ مالکیت او ژوند حق لري او د دولت وظیفه صرف او صرف د سولی برقراري نه ده. په همدی وجه د دولت قدرت باید محدود وي او په یو قسم باید د مختلفو سازمانونو تر منځ تقسیم شي. د جان لاک دغه شان نظریاتو د امریکا په انقلاب ژور تاثیر درلود او د استقلال اعلامیه طبیعي حقوقو ته څرګنده اشاره لري.په همدی توګه لاک او هابز په دی اختلاف سره لري چی د دولتونو پّ نه شتون کی انسانان څنګه لاری چاری وکاروي؟-.

د انسان نوعیت داسی دی چی کولی شي ځان له اجتماعي نظم او ترتیب سره برابر کړي که څه هم دغه ترتیب او نظم دده لپاره ډېر مختلف او متغیر وي. بعضي طوایف او قبایل په سوله کی ژوند کوي ځینی نور يې په جنګونو سره اخته دي او ځینی يې هم په خپلو همسایه‌ګانو د چور او چپاول له لاری خپل ژوند تامینوي. په دی وجه موږ نه پوهیږو چی په طبیعي حالت کی د انسان اوسېدل او زندګي به څنګه وي ځکه چی د انسان د ژوند طرز ځینی وخت سولییز دی او ځینی وخت جګړییز او نامناسب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند او مرگ

د فلسفی ځینی پخواني مسایل د ژوند او مرگ په سوالونو پوری رابطه لري او دا موضوع له نژدی دوه زره کاله راهیسی تر بحث لاندی ده. په اخلاقي فلسفه کی د قصدي او غیر عمدي قتل، ځانوژنې، په بل چا د خپل ځان د وژنې، د جنین د سقط او د ځنکدن په وخت کی د یو چا د پرېښودلو په داسی حال کی چی کولی شی ویې ژغوری گڼ سوالونه مطرح کیږي.

**قتل څه شی دی ؟-**

قتل وژل دي لیکن هره وژنه قتل نه دی دا عبارت ده د انسانانو لخوا د نورو انسانانو قصدي او عمدي وژلو څخه. په دی صورت د حیواناتو له منځه وړل څه د انسان په لاس او څه د نورو حیواناتو په مټ دقیق قتل نه حسابیږي.

دوهم د قتل مرتکب باید پوه شي چی دده مستقیم عمل د یو چا د مرگ باعث کیږي او که هغه نه پوهیږي نو دده دا عمل تقصیر نه بلل کیږي، یو کس چی ځان یې په ډیر مهارت سره د ونی په شکل پیچلی وي او یا یې ځان پکی پټ کړی وي او یو بل څوک یې په ناپوهۍ په لوري ډزی کوي او لگیږي قاتل نه دی لیکن که یو څوک د ډیرو خلکو تر منځ ډزی کوي او دی ته نه گوري چی مرمۍ په چا لگیږي برحق قتل حسابیږي.

دلته د یوی نکتی یادول ضرور دي چی قتل یوه حقوقي مسئله ده او دا چی د قتل موارد د قانون په اساس څه حکم لري د مختلفو هېوادونو تر منځ فرق کوي. کم عمره ماشومان نه شو کولی په قتل متهم کړو ځکه چی هغوئ نه پوهیږي چی مرگ علت او معلول څه شی دي لیکن د نسبتاً اوچت عمر ماشومان چی د مرگ او قتل په باب په څه پوهیږي او په دی جنایت قادر دي فرق لري. د عاقل او بالغ کس دا ادعا چی نه پوهېده وسله خطرناکه ده او یا دا چی وژل یو جنایت دی نه منل کیږي. دا لنډ توضیحات ډیری سوالونه بی ځوابه پرېږدي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ آیا قتل مختلف اقسام لري؟-
- ✓ آیا قتل دقیقاً د یو بیگناه کس د وژلو مساوي دی؟-
- ✓ آیا جنگ د قتل له انواعو څخه یو دی؟-
- ✓ آیا له ځانه دفاع کول اساساً قتل حسابېږي؟-
- ✓ آیا قتل یو بد تعریف لري؟-

د امریکا په قانون کی قتل په لومړئ دوهمه او دریمه درجه طبقه بندي شوي دي دا طبقه بندي په هغه زمینه پوری تړلی ده چی د هغی زمینې په مټ عمدي قتل رامنځته شوی دی خو په انگلستان کی بیا قتل پّ دوه طبقو تقسیم شوی دی قصدي او غیر قصدي قتلونه.

قتل عموماً عبارت دی له هغې وژنی څخه چی یو انسان د یو داسی جرم له کولو پرته ووژل شي چی د وژلو لپاره یې لازم جواز موجود وي. ددی اطلاق په اساس غیرنظامیان او عادي خلک چی په جنگ کی وژل کیږي د قتل قربانیان بلل کیږي. دا د فلسفې نظر دی ضرور نه ده چی حقوق دانان دی له دی وروستي نظر سره موافق وي. په جگړه کی ښکېل داوطلب سربازان په هغه صورت کی بیگناه نشي بلل کیدای چی جگړه غیر عادلانه وي په دی صورت کی عساکر یا خو قاتلین حسابېږي او یا هم د قاتلینو شبیه کوم بل څه -. د عسکرو دا دلیل سم نه دی چی ( ما یوازی د امر اطاعت کړی دی) د مثال په ډول: هغوئ چی په نسل وژنه کی برخه لرله همدغه بهانه کوله خو دا بهانه معقوله او د منلو وړ نه ده. د منځنیو پېړیو فیلسوفان دا خبره تاییدوي چی دفاعي جنگ روا دی. ویتوریو او گروتویس وايي چی د غیرنظامیانو او عادي خلکو په نښه کول هیڅکله جواز نه لري او دا کار عیناً قتل حسابېږي.

زیاتره فیلسوفان له ځانه دفاع کول بی قیدوشرطه روا حق بولي. توماس هابز لیکي: موږ نشو کولی انسان له خپلې دفاع نه محروم کړو دداسی چا په مقابل کی چی دده په لور زغلي او له منځه وړل یی غواړي. او دا میثاق چی په تشدد نشو کولی د تشدد مخه ونیسو باد او هوا ده، هر انسان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کولو حق لري له خپل ځان نه دفاع کول د ژوند له حق سره مساوي ده خو په دې شرط چې د مدافع شخص انګېزه له ځانه دفاع وي نه حمله کوونکي ته صدمه رسول. د تېښتې د امکان په صورت کې د مهاجم وژل روا نه دي په داسې حال کې د مهاجم وژل چې د خپل حفاظت بله لار نه وي موجوده د غرب قضايي حوزه قتل نه بولي. په امريکا او فرانسه کې افرادو ته د شخصي دارايئ د حفاظت لپاره د مهاجم وژل جايز دي.

کله چې د قتل نوي توجيهات ليدل کيږي مجبور يو چې قتل ته هم يو نوی تعريف ورکړو لکه سياسي ترور، د خلاصون جګړه او داسې نور... خو که توجيه هر رنګه موجوده وي عمومي او واضح خبره داده چې قتل يو رذيل عمل دی.

**ځانوژنه څه شی ده ؟**

ادعا کيږي چې ځانوژنه يو شريف عمل دی ځينې وخت د سقراط مرګ د يو دليل په توګه راوړل کيږي خو دا نمونه دا خبره نه ثابتوي چې ځانوژنه يو ښکلی عمل دی. خو بيا هم کولی شو ووايو چې هر ويرانوونکی عمل ځانوژنه نه ده، له خطره ډک عملونو سره مينه لرل لکه د تيز رفتاره موټرو زغلول چې د مرګ باعث کيږي ددې نښه نه ده چې هغوئ واقعاً غواړي چې مړه دې شي. له فوځ يا خطري مرګوني بل هر ځواک سره يو ځای کېدل د ځان د وژلو مانا نه لري حتی يو سرباز چې ځان په نارنجک ورغورځوي څو د خپلو نورو ملګرو ژوند وژغوري له مرګه وروسته د زړورتيا مډال ورکول کيږي او په ځانوژنې نه متهميږي.

په خپله د سقراط مرګ ځانوژنه نه وه، د يونانيانو تر منځ د شوکران څښل د اعدام يو شکل بلل کېده. فرض کړئ که په اعدام محکوم يو زنداني د زهرو له څښلو غاړه غړولی وای نو د اعدام حکم به يې په يوه بله خطرناکه طريقه عملي شوی وای. د سقراط له لوري د شوکران څښل په دې مانا وو چې هغه غوښتل د دار تختې ته په يوه نسبتاً اسانه او ارامه لار ورشي خو ځان ته له داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاری د مرگ سزا ورکول لازم عمل نه دی ځکه کېدای شي سقراط د مرگ له سزا بخښل شوی وای په هغه حالت کی به سقراط هېڅکله شوکران نه وو څښلي.

د ځينو په نظر ځانوژنه هر وخت بده نه وي ځکه ځينی وخت ژوندي پاتې کېدل ډېر بد عواقب لرلی شي چی له مرگه هم بدتر وي. يو ډله خلک وايي ژوند زما خپل دی هر وخت چی هر څه می زړه غواړي له ژوند سره يی کولی شم. ځينی وخت له مرگه د بدتر حالت له ويرې خلک ځانوژنی ته ترجيح ورکوي مثلاً له نازي المان سره د جنگ په وخت به انگليسي مامورينو زهري کپسول له ځان سره گرځول ځکه که نيول شوي وای تر داسی اندازی شکنجه کېدل چی تر مرگ سل واره بدتر وو. کله چی د دردونو د مخنيوي تکتيکونه محدود وو د سرطان مريضانو ته به تر حده زيات مرفين ورکول کېدل چی عيناً حکم يی درلود. دا چی آيا کولی شو ووايو چی ځانوژنه همېشه روا ده ؟- ځينې خلک استدلال کوي چی دقيقاً هماغسی چی يو انسان حق لري خپل زاړه اخبارونه د کور زاړه لوښي او لباسونه له منځه يوسي خپل ژوند ته هم خاتمه ورکړي ځکه زندگي د هر چا شخصي ملکيت دی او د هر چا ژوند په همغه کس پوری تعلق لري.

سمه ده دا به ومنو چی هر کس د خپل ژوند مالک دی ليکن دا به څومره لازمه وي چی خودکشي هم د انسان خپل حق وبلل شي ؟-

زما حق به د يو بی ارزښته شي لکه زوړ اخبار او د چای د زاړه لوښي د له منځه وړلو لپاره ومنو لېکن دا په دی مانا نه ده چی موږ د هر هغه څه د له منځه وړلو حق لرو چی موږ يی مالکان يو. ژوند د يو انسان له ارزښته ډک ملکيت دی او ددی ملکيت له منځه وړل د يو انسان مطلق حق نه شو بللی ځکه ځينی وخت د يو چا په ژوند پوری د نورو انسانانو ژوند تړلی وي. په پخواني روم کی پلارانو خپل اولادونه له منځه وړلی شول ځکه هغه وخت دا نظريه غالبه وه چی اولادونه د هغوئ په پلرونو پوری تعلق لري او د همدی تصور په بنياد ميړونو خپلی ښځې هم وژلی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غرب کې د عیسویت او ورپسې د فیمنېزم له تاثیر وروسته ټول دغه ډول پخواني رواجونه او د مالکیت نظریات وحشي وبلل شول.

ژوند د هر انسان خپل حق نه دی بلکې په یو ډول د هغه د ژوند حق له هغه ماحول سره شریک دی چې دی پکې اوسېږي او ده ته یې روزنه ورکړې ده. مثلاً په جاپان کې ځانوژنه تر ډېره قبیح عمل نه بلل کېږي خو که په فساد تورن یو جاپانی تجار په خپل فساد کې رسوا شوی وي او هغه د خپلې رسوایئ په پایله کې وغواړي ځان ووژني دا به د جاپان په نسبت په یو غربي هېواد کې بده وګڼل شي ځکه چې هغه غواړي د پولیسو د مجازات له وېرې دا کار وکړي. په غرب کې ځانوژنه له متضررو اشخاصو د بښنې د غوښتو یوه لار نه بلکې له سزا نه د شرمناکې تېښتې په توګه تلقي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شر وجود

په نړۍ کې د شر موجودیت د توحیدي خدای پېژندنې لپاره عمده مسأله ده چې په بنیاد یې خدای مطلق مهربانه او مطلق واکمن دی. ځینې نور دینونه وجود لري چې د هغوئ د لمانځنې خدایان نه مطلق رحیم دي او نه مطلق قادر. همدارنګه داسې دینونه هم شته چې وايي د خدای ذات یو ناپیژندل شوی شی دی په همدې دلیل ددغه دین پیروان ګمان کوي چې د یو ناپیژندل شوي خدای عبادت کوي.

د اسلام، عیسویت او یهودیت برخلاف هغه ادیان چې ګڼ شمېر خدایان لري د شر د وجود شاید د خپلو خدایانو تر منځ د کشمکش نتیجه وبولي چې نه مطلق قادر دي او نه مطلق رحیم.

ملحد فیلسوف ډیوېډ هیوم د شر مسئله داسې تشریح کوي: که په نړۍ کې د شر وجود د خدای په اراده وي په دې صورت کې هغه خیرخواه نه دی او که د شر وجود د خدای په اراده نه وي نو په دې صورت کې هغه مطلق قادر نه دی. دا چې شر به خامخا یا د خدای په اراده وي یا د خدای بې ارادې، نو په دغه دواړه حالته کې به خدای هم یا مطلق قادر نه وي یا مطلق رحیم. او درېیمه نتیجه هم ممکن ده او هغه دا چې خدای بلکل وجود ونلري. ډیوېډ هیوم دا مسئله واضح نه کړه لیکن په خپلو لیکنو کې یې ځای ځای د شر وجود د خدای د عدم وجود د یو دلیل په توګه کارولې دی په همدې دلیل موږ د هیوم د درېیم نظر په سر له بحث نه صرف نظر کوو.

موږ به معمولاً د هغه شر تر منځ چې انسان یې ایجادوي او د هغه شر تر منځ چې انسانان کنټرول نه پرې لري په تمیز قایل شو. دا چې یو انسان بل ته شر پیدا کوي کولی شو اخلاقي شر ونوموو خو د زلزلې، قحطۍ او مریضۍ په شان شرونه طبیعي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الاهیاتو ځینی عالمان تاکید کوي چی شر صرف یو ذهني مفهوم لري. د شر او بد کلمات د نارضایت له صفاتو پرته بل څه نه وي، یعنی که په ساده ژبه ووایو هر هغه څه چی زموږ بد راځي او نفرت مو تری کیږي شر دی او هر هغه څه چی موږ ورسره موافق یو خیر یې بولو.

د ابن میمون په شان فلاسفه متعقد وو چی هر هغه څه چی له خیر نه خالي وي او د انسان تاوان پکی وي شر دی. بېماري، قحط، فقر او جهل ذاتاً شر دی ځکه چی انسان ته بدبختي راوړي. انسان نشي کولی ووایي چی شر خدای پیدا کړی دی، که فرض کړو ووایو چی یو سړی ړوند دی هغه ته ړندېدل شر دی ځکه چی عدم بینایي ده. یا په ملاریا ککړ یو کس ته د هغه د صحت غیر سلامتي یو شر ده خو دلته شر عدم نه ده وجود ده، د وینی په جریان کی د پلازما په نامه د ذره بیني موجود وجود.

بل اعتراض په هغه نظریه دی چی هم شر عدم او نشت بولي او هم یې د علت د قوی په توګه مطرح کوي کولی شو استدلال وکړو چی نشت نشي کولی د هیڅ څه شي علت شي ځکه یو څه چی نه وي نو علت به څنګه شي.

کله چی د علت او معلول مسئله راځ نو ضرور ده چی سرچینه به یې له یو وجود نه شروع کیږي. مثلاً ستالین او هټلر د یو وحشتناک شر علت ول هغوئ په خپل نوبت نور شرونه راوتوکول. دلته شر له خپلی سرچینی نه شروع شو او د دغی سرجینی په توګه ستالین او هټلر علت ول نه عدم او نشت.

ظاهراً د عدم نظریه د شر له مسئلی نه عاجز دی نو که شر د خیر نه شتون ته وایي دلته دا سوال مطرح کیږي چی څه علت دی چی دغه وحشتناک واقعیتونه رامنځته کیږي که چیرته خدای مطلق رحیم او مطلق قادر وي نو ولی اجازه ورکوي چی دغسې وحشتناک حقایق رامنځته شي ؟-

آیا د خدای او انسان د خیرخواهئ تر منځ فرق شته ؟-

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرته په همدی نکتې توافق وکړو چی د انسان او خدای خېرخواهي په نوعيت کی متفاوته ده نو آيا دا د شر د مسئلی حل دی؟

ددی سوال په جريان کی سړی ويېلی شي چی آيا هغه خدای چی خېرخواه نه دی د عبادت لايق دی؟- دا ډېره لری ښکاري چی خيرخواه خدای دی وکولی شي وحشتناک شر چی په دنيا کی موجود دی امضا کړي او روا دی يې وبولي. که يو شخص د ماشومانو يوه ډله په حبس کی واچوي او تر مرگه يې وږي کړي داسی شخص به خلک دارالمجانين ته بوځي او د ليوني گمان به پری وشي نو څنگه به يو مطلق قادر خدای وکولی شي هره ورځ د قحطۍ له وجی معصوم ماشومان ووژني؟-

همدا راز دا سوال مخی ته راځي چی د تکوين د نظريې دا دعوه چی خدای انسان په خپل شکل پيدا کړی دی څنگه ومنو. د الاهياتو عالمان چی د متخصصو مؤمنانو اکثريت يی تشکيلوي وايي چی د خدای او انسان تر منځ شباهت جسماني شباهت نه دی بلکی تر ډېره حده دغه شباهت روحاني شباهت دی نو آيا په دی صورت کی د اجماع په باب د تکوين تفسير رد کړو؟-

ظاهراً د خدای له وجود نه منکر فيلسوف ډيويډ هيوم وايي: د خدای په اړه دا تصور چی انسان يی په خپل شکل پيدا کړی دی کاملاً غلطي ده. آيا له دی نه دا نتيجه واخلو چی خدای خيرخواه دی خو قادر مطلق نه دی ؟- هيوم په ريشخند انداز سره وايي هغه خدای چی دا نړۍ يې پيدا کړی ده لومړی يې بايد خپل هنر په يو بل څه ازمايېلی وای. هيوم وايي شايد د جهان خالق زوړ شوی وي يا شايد د نړۍ جوړوونکی خدای کوچنی ماشوم وي چی تر اوسه لا تازه زده کړی کوي.

که چيرته شر يوه طبيعي پديده وي او انسان هم د خير او شر تر منځ په فرق او انتخاب کولو کی خپلواک وي نو په دی اساس موږ بايد د خير او شر تر منځ په انتخاب قادر واوسو. ليکن د سيلابونو، خشک‌سالۍ او بيمارۍ په شان شرونه د انسان د انتخاب په نتيجه کی نه راځي، د هيوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه ګیري داده چې زموږ لپاره د خدای ذات نالیدلی او ناپیژندل شوی دی او موږ نشو کولی یو نالیدل شوی شی کاملاً وپیژنو.

البته د هغه کسانو لپاره چې ملحدین دي د شر مسئله مطرح نه ده نړۍ اتفاقاً د شرورو لرونکی ده دقیق هغه ډول لکه نور طبیعي اشیاء چې وجود لري. د ملحدینو یوه ډله وایي چې د شر موجودیت همغه څه دي چې دوئ لا نور د خدای په وجود بې باوره کوي. لېکن د شر مسئله په خدای د بې باورئ مطلق او مطمئن دلیل نه دی که څه هم ځینې وختونه دا مسئله د خدای د وجود په وړاندې غاښ ماتوونکی ځواب وي خو په حقیقت کې داسې نه ده. موږ یو څو ځوابونه وړاندې کوو هغه چې تر اوسه مذهبي او غیرمذهبي فیلسوفان پرې په بحث اخته دي.

- شر وجود نه لري
- خدای وجود نه لري
- شر هم وجود لري خدای هم وجود لري، هغه مطلق مهربانه دی لیکن مطلق قادر نه دی
- شر او خدای دواړه وجود لري، هغه مطلق قادر دی خو مطلق مهربانه نه دی
- شر او خدای دواړه موجود دي، لیکن خدای نه مطلق رحیم دی نه مطلق قادر
- خدای موجود دی لېکن تر اوسه په مکمل ډول د هغه د ذات درک او پېژندګلوي نه لرو
- څه مسئله نشته، د خدای څرګنده خېرخواهي د هغه څرګند قدرتونه او د شر ښکاره او ثابت موجودیت متقابلاً سره جوړ دي لېکن ددغه جوړښت نوعیت یو راز دی چې د بشر له درک او فهم نه لوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خدای وجود

یهودیت او مسیحیت دینونه خدای د یو نامخلوق او نامتناهي موجود په توګه تصور کوي چې نړۍ او هر څه چې په نړۍ کې دي همغه پیدا کړیدي. دا موجود د بشر په نسبت د خالق مقام لري ددغه دواړو دینونو په عقیده خدای د پلار په مقام دی چې خپلو انساني بچیان هم په دی دنیا او په اخروي دنیا تعذیبوي او تحسینوي. اسلام یعنی دریم لوی توحیدي دین په ځینی مواردو کی له دغه دواړو دینونو سره مشترکات لری. که څه هم مستقیماً خدای د پلار په توګه نه تلقي کوي لېکن بیا هم ددی باوجود الله یعنی د مسلمانانو خدای په قرآن کی د هو په لفظ ځانته اشاره کوي او دقیقاً د یهودانو او مسیحیانو د خدای په شان انسان تعذیبوي او تحسینوي.

البته د خدایانو مربوط تصور ددغه دریواړو دینونو له تاریخچې ډېر پخوا دی، داسی تر سترګو کیږي چې د خدای په اړه تصور د نړۍ د تاریخ په ټولو پیژندل شوو ټولنو کی د یو اساسي تصور په توګه موجود وو. د فیلسوفانو په باب باید ووایو چې هغوئ پیړی پیړی د خدای د وجود په اړه فکر کاوو د هغوئ علاقه غالباً په دلایلو متمرکزه وه.

آیا کولی شو د خدای وجود اثبات کړو ؟-

او یا دا چې هغه تنها تر ایمان پوری متعلق وبولو ؟-

د خدای د وجود د اثبات لپاره مهمترین دلایل عبارت دي له : دلیل د الهام په بنیاد، دلیل د معجزاتو په بنیاد، دلیل د علت اولی، دلیل وجودي، دلیل اتقان صنع.

### دلیل د الهام په بنیاد

ټول دریواړه لوی توحیدي دینونه ادعا کوي چې ځینی وختونه خدای نارینه او ښځینه وو ته ځان په مخصوصه توګه ښایي په دی توګه درېواړه دینونه تعلیم ورکوي چې خدای په کوه طور کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان موسی (ع) ته ښودلی دی او لس فرمانونه یعنی لس لوحی او قوانین یې هغه ته ورکړل. په دی سربېره عیسویان عقیده لري چی خرنګه د نوي تعهد په بنیاد خدای عیسی مسیح په واسطه نوی شریعت بشر ته وحی کړ، په داسی حال کی چی اسلام وایي خدای یعنی الله له محمد سره خبری وکړی او بېلابېل دستورات او قوانین یی هغه ته ورکړل او مومنانو ته یې زېری ورکړ. همدا راز ځینی وخت عادي مومنان ادعا کوي چی د خدای د وجود په باب شخصي الهامات لري دوئ دغه الهامات ځینی وخت د خوب ځینی وخت د خیال او ځینی وخت د خارق العاده او معجزه یي تجربو په اساس یادوی. لېکن ددوئ مخالفین دغه خبره ردوي او وایي چی اکثره وخت انسان په خوب کی هغه څهویني چی اصلاً حقیقت نه لري مثلاً یو څوک په خوب کی الوتونکی انسان ویني حال دا چی الوتونکی انسان بلکل وجود نه لري یانې خوب او خیال د اعتماد وړ دلایل نشي کېدای.

### دلیل د معجزاتو په بنیاد

معجزات څه شی دي ؟- تر ټولو مشهور حکایت دادی چی معجزه ّپ انساني امورو کی غیرعادي واقعه ده چی معمولاً د ښه او یا بد شخص لپاره ګټوره ده او د خدای په مستقیم دخالت سره رامنځته کیږي. او یا د خدای په امر سره د پیغمبرانو او پاکو خلکو په واسطه رامنځته کیږي. معجزات اکثره د طبیعت برخلاف پیښیږي مثلاً کله چی انسان مړ کېږي هیڅکله بیا نه ژوندی کیږي خو که خدای وغواړي د خپل نېک بنده په لاس کولی شي مړي بیا ژوندي کړي.

معجزات هغه خارق العاده وقایع دي چی علم یی په بیان او درک قدر نه دی په همدی حال کی ماټریالسټ فیلسوفانو ته چی علمي ذهن لري هیڅ خارق العاده پېښه دومره خارق العاده نه ده چی د مادي علت فاقد وي، ماده پرست فیلسوفان یوازی په همغه حقایقو باوري دي چی مادي علم یی تصدیق کوي. اور همېشه سوزول کوي یخ همیشه یخول کوي، ټول طبیعي مواد د جاذبی د قانون طابع دي، اوړی همېشه په پسرلي پسې راځي، او ټول ژوندي سر یوه ورځ مري. روښانه ده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ د علت او معلول د قوانینو محکومه ده او که تر اوسه په کوم کار زموږ علم نشته باور دی چې په راتلونکي کې به پوهان ورته ورسېږي.

ډیوېډ هیوم (۱۷۱۱-۱۷۶۰) د هغو دین ضد دلایلو تر ټولو مخکښ مسؤل دی کوم چې دا وخت د غرب په الحادي محافلو کې رایج دي. هغه وایي: د طبیعي قوانینو د صدق لپاره ډېر زیات دلایل شته دي خو د معجزاتو د تایید لپاره ډېر اندک ثبوتونه شته کوم چې طبیعي قوانین یې نقضوي. هیوم وایي خلک طبعاً دروغجن هم شته دا چې فرد دروغ ووېیلي یا د غلطۍ مرتکب شوی له دې ډېر احتمال لري چې ووایو طبیعي قوانین باطل شوي دي.

**دلیل د علت اولی**

د علت اولی مهمترین بحث له منځنیو پېړیو زموږ لاس ته رسېدلی دی، دا دلایل په دې توګه جریان مومي:

هر علت علت لري او خپله همدغه علت هم یو علت لري اخیري علت هم یو علت لري او دا مسیر همداسې د وروسته په لور تر اخره دوام مومي. اخیراً به همدغه علت یا متناهي ختمېدونکی وي او یا نامتناهي نه ختمېدونکی. اوس که دغه مجموعه متناهي وی نو باید د شروع یوه نکته ولري چې کولی شو هغې ته لومړنی علت ووایو او دغه علت اولی خدای دی. او که دغه مجموعه نامتناهي وي څنګه ؟- آکویناس له ډېرو ملاحظاتو وروسته دا امکان ردوي چې ټوله نړۍ له ازله موجوده وه او د زمان شروع یې نه درلوده، لېکن دلته باید ووپوهېږو چې ارسطو په دې باب هیڅ تشویش نه درلود هغه باوري وو چې نړۍ له ازله موجوده وه که چېرته د ارسطو خبره سمه وي نو د علت اولی دلایل بې اعتباره کیږي.

آیا کولی ووایو چې د علت او معلول دلایل خطا نه دي؟-

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا ممکن ده چې د علت او معلول ارتباط به خپل ذات کی هیڅ نه وي او دا هسی د بشر د ذهن زېږنده وي؟-

یا دا چې وپوښتو آیا ریښتیا هم علت له ازله وجود لري او زماني آغاز او شروع لري که نه ؟-

که د اکویناس دغه ادعا چې د نړۍ له ازله شتون نا ممکن دی ومنو نو باید پوښتنه وشي چې آیا د خالق لپاره د ازلی وجود تصور آسان دی؟- او که دی نو ولې ؟-

که چېرته موږ ومنو چې د خدای وجود له ازله وو نو دلته د ارسطو نظر په خپله تاییدیږي چې د ازل په نامه یو څه شته او دا حق بیا ارسطو ته حاصلېږي چې ووايي نړۍ له ازله موجوده وه. برعکس که ووایو چې خدای له ازله نه وو موجود نو په دی توګه دا خبره منځته راځي چې د خدای وجود هم باید علت ولري هغه علت هم باید یو علت ولري او همداسی تر اخره.

بعضی فیلسوفان وایي چې خدای په خپله د خپل ځان علت دی لېکن دا تصور چې علت په خپله د خپل ځان علت کېدلی شي د ازل تر مسئلی هم سخت او پیچلی بحث رامنځته کوي، یانی څنګه یو موجود چې وجود ونه لري کولی شي چې خپل ځان رامنځته کړي ؟-

**دلیل د وجود په بنیاد**

مشهور فیلسوف آنسلم (۱۰۳۳- ۱۱۰۹) له مقدس کتاب نه په دی عبارت شروع کوي چې احمق په خپل زړه کی وویل خدای وجود نه لري، هغه وایي حتی د خدای منکرین هم باید د خدای تصور په زړه کی ولري له دی بغیر هغوئ نشي کولی په خپله خبره هم وپوهېږي.

(خدای وجود نه لري) دا تصور چې حتی یو احمق یې هم په خپل زړه کی لري دقیقاً څه شی دی ؟

آنسلم وایي د خدای تصور د هغه موجود تصور دی چې له هغې د کوم بل لوی شي تصور نشو کولی، یعنی موږ نه شو کولی چې له خدایه د بل لوی شي تصور وکړو ځکه د خدای تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبارت دی د یو داسی موجود له تصور څخه چی تر ټولو پوه، تر ټولو زورور، ازلي او مطلق کامل دی نو دغه تصور د خدای تصور دی او په کایناتو کی ددغه تصور بل مثال نه لیدل کیږي.

**دلیل د اتقان صنع**

د خدای د وجود د تایید لپاره دا دلیل د فلسفی تر ټولو گویا دلیل دی چی دنیا او په دنیا کی شته اشیاء د یو عجیب نظم لرونکي دي د سیارو له حرکاتو نیولی د مغزو تر خارق العاده جوړښت پوری دا هر څه تصادفي نشي کېدلی دا ډول نړی نشي کولی بغیر له هدفه او تصادفي منځ ته راشي دا دنړۍ د یو حیرانوونکي هنري اثر مشابه ده.

ویلیم پالي (۱۷۴۳-۱۸۰۵) دا له ساعت سره مقایسه کوي که چېرته موږ په یوه بی انسانه جزیره کی ساعت ومومو هیڅکله به څوک داسی فکر ونه کړي چی په دی جزیره کی د ساعت دا ډول پیدا کېدل تصادفي وي او دا ساعت په خپل سر رامنځته شوی دی بلکی بلافاصله به مو نتیجه اخیسته چی یو عاقل موجود شته چی د کوم غرض په خاطر یی دا ساعت جوړ کړی دی ، په دی توگه ساعت ساز له خدای سره مقایسه کیږي.

ډیویډ هیوم وایي: نړۍ نشو کولی چی له انساني صنعت سره تشبیه کړو هغه وایي که نړۍ له ساعت سره مشابه ده له غټو غټو حیواناتو او ونو بوټو سره هم مشابه ده ؟- که ساعت کوم عاقل شخص طرحه او ډیزاین کړی دی نو حیوانات او ونې بوټي طبیعتاً رامنځته شوی دی چی د یو ساعت ساز او ډیزاینر شتون ردوي.

دلته سوال دادی چی آیا له یو مدبر او طراح پرته کېدای شي دغسی منظمه نړئ رامنځته شي ؟- د ډیویډ هیوم ځواب دادی چی ثبات له گډوډۍ او نامنظمۍ نه ډیر ارزښتمند دی نړۍ طبیعتاً استواره او باثباته ده او اړتیا نشته چی څوک یې کنټرول کړي د طبیعت قوانین هر څه کنټرولوي او دوام مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## برابري او مساوات

آیا برابري یو داسی ارمان دی چی د دفاع کولو ارزښت لري ؟-

دلته اړتیا ده چی توضیح کړو چی موږ د کوم ډول برابرۍ خبره کوو. ځینی وخت د برابرۍ ټکی د اذهانو د مخشوش کېدلو سبب شي ځکه کله کله مساوات طلبان وایي چی خلک په هر حال سره برابر دي وروسته دا نتیجه ګیري وشي چی باید ټول خلک سره برابر اوسي ددی ابهام د توضیح لپاره باید د برابر کلمه په څو مختلفو جملو کی استعمال شي.

کولی شو ووایو چی د مساوات طلبۍ مخالفان ددغه غلط فهمۍ اصلي قربانیان دي هغوی د برابر د کلمې په مقابل کی وایي چی خلک بی تردیده سره برابر نه دي او پوښتي چی کله تاسو وایئ چی خلک سره برابر دي مقصد مو څه دی ؟- هغوئ په دی هم نه پوهیږي چی له هر لحاظه د خلکو برابري هم زیانمنوونکی ده او هم ناممکن ده.

بېشکه هیڅ حکومت که هغه هر څومره قدرتمند حکومت وي هم نشي کولی چی ټول خلک هم د قد هم د جرأت او هم د مهارتونو په لحاظ سره برابر کړي. که چېرته چارواکو کولی شوای چی د یو چا ذهني توان پورته کړي اول به یې خپله توانمندي پورته کړی وه.

لېکن حکومت کولی شي خلک په ځینی نورو مواردو کی سره برابر کړي. مثلاً حکومتونه کولی شي خلکو ته د برابری رایې ورکولو حق ورکړي. او یا د مساویانه محاکمې کولو حق ورکړي دا ډول سیاسي برابري اصولاً ناممکنه ده. د اقتصادي برابرۍ له عهدی هم هیڅ حکومت کامیاب نه دی وتلی لېکن ځینی نور فکر کوي چی دولتونه کولی شي خلک د مادي امکاناتو او درآمد له لحاظه سره برابر کړي. کله چی موږ د برابرۍ خبره کوو حتماً به زموږ هدف یا سیاسي برابري وي او یا هم د مادي وسایلو او آمدن برابري. ډېری غربي فیلسوفان بلخصوص هغوئ چی د مساوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلبۍ ضد دي دا تاييدوي چې سياسي برابري د سياسي آزادۍ اساسي شرط دی، او په همدی وجه برابري يو سالم ارمان دی.

اقتصادي برابري د نړۍ د اکثره جنجالونو منشأ ده ځکه چې اقتصادي برابري له اړتياوو، غوښتنو او تمايلاتو پورې اړه لري. آيا هغه خلک چې په ذهني، ښکلا، کاري ځواکمنۍ او د بيدارۍ له لحاظه نابرابر دي بايد د اقتصاد له لحاظه هم سره برابر کړو ؟- يا دا چې آيا د ښايست په لحاظ بهتر شخص د يو بدرنگ کس په نسبت د زيات عايد د ترلاسه کولو حق لري ؟-

هغو تولنو ته لاسرسی چې اقتصادی نابرابري يې لرله يو اساسي مشکل وو. دلته ليدل کېږي چې اقتصادي برابرۍ ته لاسرسی هغه وخت کيږي چې د افراط او نابربرۍ له پولو تېر شو خو داسی نه لکه جورج اورل چې وايي چې شخصي دارايۍ دی هم په مساويانه ډول بی له تبعيضه د افرادو تر منځ سره وويشل شي. تاريخ راښيي چې هېڅکله داسی اعمالو نابرابري په برابرۍ نه ده بدله کړی. د دارايۍ تقسيم د برابرۍ دايمي حالت منځته نشي راوړلی او نه هم د مساوات طلبۍ دوامدار خوب ليدنه د تحقق قابل ده، بلکې حکومت بايد د لازمي برابرۍ د ساتنی لپاره د اقتصادي زېربناوو چلښت ته دوام ورکړي او هغو کسانو ته د کار کولو زمينه برابره شي چې د اقتصاد د چلښت او لوړتيا توان لري.

امريکايي ليکوال رابرټ نازيک د سياسي فيلسوف او د ښي اړخي سرمايه‌دارۍ مدافع آين رند له نظرېې ژور متأثر دی. نازيک په خپل کتاب (بی دولتي: دولت او د آرمانونو ښار) کی ادعا کوي چې که چېرته دولت غواړي چې اقتصادي برابري ايجاد کړي نو د بالغو افرادو ترمنځ دی سرمايه داري فعاليتونه غيرقانوني اعلان کړي. دلته د مثال په ډول يوه کيسه رانقل کوو: مثلاً ويلټ چيمبرمين فوق العاده تکتيکي شخص ده او ډير خلک د هغه د مسابقې د ليدلو لپاره ورځي خو ويلټ په دی شرط لوبه کول غواړي چې دده طرفداران بايد دده په صندوق کی ډېری پيسی واچوي. نازيک وايي د يو مساوات طلب په نظر چيمبرمين حق نه لري او دا له انصافه لېری خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ځکه باسکټ بال یوه ګروپي لوبه ده چیمبرمین نشي کولی چې د ګروپ د نورو لوبغاړو په نسبت زیاتی پیسې لاسته راوړي. خو له بل لوري وايي چې د هغه د طرفدارانو له دی نه منع کول چې خپل قهرمان ته اضافي پیسی ورکړي د هغوئ د آزادۍ سلبول دي.

نازیک د دارایئ د تقسیم په باب متفاوت نظر لري. هغه وايي هره سرمایه له یوی مشروع لاری ترلاسه شوی ده. شاید داسی هم وي چې د زور او یا غلا له لاری پیدا شوي وي. که د سرمایې فعلي صاحبان او یا پلرونه یې د غلا او زور مرتکب شوي نه وي د هغوئ له دارایئ نه د محرومولو هر ډول کوشش د هغوی په حق ښکاره تعرض دی. ځینی وخت دا هم وايي چې حکومتونه چې له فقیرانو سره د کومک لپاره کوم مالیات له سرمایه دارو راټولوي په جریان کې یی د رعیت ډیری حقوق تر پښو لاندی کیږي. په دی صورت دولت باید دولت حداقل وي په دی مانا چې د دولت وظیفه یوازی له جنایاتو مخنیوی او د بهرني دښمن په مقابل کی دفاع وي.

**د فرصت برابري**

مساوات طلبان ځینی محدودیتونو ته ترجیح ورکوي یعنی د فرصتونو مساوات.

دلته مهمه نظریه داده چې هر څوک باید په ټولنه کی د کامیابۍ چانس او فرصت ولري. ددی امر د ممکن کېدلو لپاره باید دا وظیفه دولت په غاړه واخلي چې کولی شي له مالیاتو څخه د مدارسو او تعلیمي او تحصیلاتي مؤسساتو د جوړولو لپاره کار واخلي. لېکن هیح کس نه غواړي چې مالیات ورکړي خو دداسی کسانو شمېر هم کم نه دی چې ددی لپاره مالیه ورکوي څو د پوهنتوني زده کړو کلینیکي مرستو او ټولنیزو رغنیزو چارو له فرصت څخه په مساویانه ډول استفاده وکړی شي.

په غرب کی اکثره خلک د نازیک او آین رند د نظریې پلویان نه دي خو هغوئ دا امکان هم مني چې ډیری خلک اخلاقاً ددولتي بودیجو لپاره له خپلو شتو لاس په سر کېږي هغه شته چې ددوئ قانوني ملکیت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دی توګه وییلی شو چی دولت په خاصو او معیینو حالاتو کی حق لري چی د عمومي لویو مصالحو په خاطر ځینی اشخاص د هغوئ له آمدن نه محروم کړي.

**قانون او ارزښتونه**

ځینی مساوات طلبان د خپلو ارمانونو د دفاع لپاره د حکومت او قانون استناد کوي، خو قوانین باید اجتماعي وي او د مشخصو اشخاصو او محوطې لپاره نه وي، او که داسی وي هغه اصلاً قانون نشي بلل کیدای.

چېرته چی د یوی اجماع په صورت کی له قانون نه برخمن کیدل موجود وي او په پراخه توګه له هغی حمایت وشي نو فکر وکړئ چی د مساوات لپاره مو یو مناسب فرصت تر لاسه کړی دی. لېکن مساوات طلبان له قانون نه د یو لوړ شي په لټه کی دي چی د خپل هدف دفاع پری وکړي، هغوئ غواړي چی له سیاسي، اقتصادي او احتمالاً اجتماعي برابرئ نه هم دفاع وکړي. اکثره وختونه قانون د ټولو هغو خلکو لپاره یو قسم تطبیقیږي چی قانون تر پښو لاندی کوي خو بیرته د قانون په باب دا احتمال وي چی د ټولنې د ځینی ګروپونو په وړاندی په تبعیض او نابرابرئ قایل دی. د جنوبي افریقا د عبور او مرور قانون همداسی وو، له هغوئ سره چی د عبور او مرور له قانون نه تخلف کوي یو شان برخورد کېده خو سپین پوستي له هماغه اول وخته د قانون په عملي کولو مجبور نه ول.

ښشکه د انسانیت ارمان دادی چی د ټولنی تر منځ مهرباني، عاطفه او متقابل احترام موجود وي په دی توګه باید ټول انسانان د ټولنی هرقشر ته که هغه لوړ وي او که ټیټ په عزت او احترام قایل وي بی له دی چی فرق پکی وشي. بلخوا که څه هم دا عمل ممکن دی خو په عملي ډګر کی ډېر کم تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**حد اقل دولت**

آین رند، نازیک او نور ښي لاسي ازادي غوښتونکي استدلال کوي چې د دولت بهترین قسم حداقل دولت دی. حداقل دولت یعنی هغه چې د خپل فعالیت حوزه په ځینی زمینو پوری محدودوي، دغه حوزی د بهرنئ حملې په مقابل کی دفاع او دنظم او قانون د ساتنې په شمول ساحاتو ته وېیل کیږي. د نازیک په باور د دولت حنجره د ملت لخوا د قانون د عملي کولو په خاطر د ځینې ازادیو قربانولو ته وایي، موږ په قانون کی دقتل خلاف نکات ځایوو ځکه هیڅوک باید د خپل همسایه د وژلو حق ونلري، دا په یو ډول محدودیت دی خو داسی محدودیت نه دی چی زموږ د ځورېدلو سبب شي هغه محدودیت چی موږ یې منلو ته تیاریږو هغه محدودیتونه دي چی موږ یې عملي کول اړین بولو.

په حقیقت کی ځینې مساوات طلبان او د مساوات طلبۍ ضد اشخاص په همدی ټکي سره وران دي چی د دولت د مسؤلیت او ثدرت ساحې دی وټاکل شي یعنی دا ټکی دی روښانه شي چی دولت تر کومه حده قدرت باید ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## آزادي

په سیاسي او اجتماعي برخه کی آزادي د یو انسان د حقوقو بنسټ دی.

- ✓ له سانسور څخه آزادي: یعنی د لیکلو او ویلو آزادي هماغه څه چی کټ مټ انسان یې غواړي.
- ✓ له مذهبي تحمیل څخه آزادي: یعنی د ځانځلولپاره آزادي چی د یو فرد حق دی او همدا راز د نه ځانځلو لپاره د انسان خپلواکي.

### سیاسي آزادي

ټولی ازادئ سیاسي نه دي، له ویری نه آزادي یعنی د روزولټ نظریه په پام کی ونیسی: روزولټ د هغې ویری خبره کوله چی مستبد دولتونه یې د رامنځته کولو باعث وي. لېکن خلک نوری ویری هم لري، خلک غواړي د مرضونو له وېری د ذهني او رواني اختلالاتو له وېری او د یوازیتوب له وېری نجات ومومي.

خو زموږ بحث دلته د سیاسي آزادۍ په وضاحت څرخي چی د افرادو او دولت مربوط کیږي. سیاسي آزادي په خپل ځان کی یو ډیر پراخ بحث دی لهذا موږ په دری اصلي پوښتنو سره دا موضوع غزوو.

I. اوله پوښتنه داده چی څو قسمه سیاسي آزادۍ وجود لري ؟

II. آیا د سیاسي آزادۍ مختلف اقسام له یو بل سره رابطه لري ؟ په بل عبارت که چېرته یوه ټولنه یو ډول آزادي لري آیا دغه آزادي نوری آزادۍ هم تضمینولی شي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



III. دریمه پوښتنه داده چې کوم ډول آزادي مهمه ده ؟

څلور ډوله سیاسي آزادۍ وجود لري:

- ✓ ملي آزادي یا استقلال د استعمار په مقابل کې
- ✓ د مشروطه حکومت په مقابل کی آزادي یعنی د استبداد په مقابل کی جګړه
- ✓ فردي آزادي
- ✓ او اقتصادي آزادي

**استقلال یا د استعمار په ضد جګړه**

آزادي د مدني حقوقو د تر لاسه کولو، د دېموکراسۍ د رامنځته کولو او له مشروطه حکومت څخه د خلاصون په مانا نه ده، بلکې تر ډېره د استقلال په مانا ده یعنی د بهرنیو اربابانو له سلطې څخه خلاصون.

ولی حکومتونه له بهرنیو حاکمانو وېره لري ؟- شاید په دی وجه چی استعماري استبداد تر بومي او وحشي استبداد بدتره وي. په دی بنیاد ښېکه مستبد حکومتونه له خپل رعیت نه بده اقتصادي استفاده کوي خو دا ډېره واضحه ده چی استعماري حکومتونه د مستبدو پاچاهانو او حاکمانو په نسبت له خپلو رعایاوو ډېره بده استفاده کوي، او اقتصادي استفاده تر ډېره د یو ملک په مستعمره کېدلو تامیږي.

استعماري حکومتونه د دین کلتور او ژبی له نظره د محلي استبدادي حکومتونو په نسبت ډېر بدتر وي. اکثره وخت استعمار کلتوري دیني او ژبنۍ ویرانۍ له ځان سره لري. د استعمار بدترین جنایات شکنجه او قتل عام ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېکن په مختلفو وختونو کې په دغه خاورینه ځمکه مختلفو ظالمانو وجود درلود چې په خپل رعیت یې تر بل هر خارجي استعمار زیات ظلم او ستم کړی دی لکه کالیګولا او پول پوت هغه پاچاهان وو چې په خپلو خلکو یې هغه بلاوې نازلی کړی چې هیڅ استعمارګر یې شاید په خپل استعمار لاندی خلکو رانه ولي.

## د مشروطه حکومت په چوکاټ کې سیاسي آزادي

د آزادۍ لټون غالباً د قلم او بیان جګړه او کله کله د تورو جنګ چې د دیکتاتورانو او مطلقه پادشاهانو په خلاف وي. کله چې د حاکمیت لاندی کسان د یوی نمایندګۍ شکل جوړول وغواړي د دیکتاتورانو او پاچاهانو قدرت محدودیږي. په دی بنیاد که هر څه مساوي وي د خلکو د نمایندګۍ زیاتوالی به د حاکمانو د قدرت په کمېدلو تمام شي. یو دلیل همدا دی چې سیاسي نماینده – ګۍ د آزادۍ په مانا دي.

هر حکومت د خپلو خلکو لپاره سخت یا ضعیف محدودیتونه رامنځته کوي خو د مساوات په صورت کی خلک له دغه محدودیت نه ازادیږي. هغه خلک چې له خپله منځه د حکومت لپاره نمایندګان ټاکي د ځان لپاره د لا ډېری ازادۍ غوښتونکي وي.

خو آیا پارلمانی حکومت کافي دی ؟- نه ! ځکه پارلماني حکومت یوازی په همغه خلکو تکیه دی چې د پارلمان په چوکۍ یی تکیه وهلي وي.

آیا شاهي حکومت کافي دی ؟- نه ! لومړی باید دا وپوښتل شي چې آیا مشروطه حکومت د ټولو خلکو د نظر او تایي وړ دی او که یوازی د یو څو کسانو.

د سیاسي احزابو شتون روا دی خو آیا د رای ګیرۍ نظام واقعاً عادلانه دی. په سترو ټولنو کی دا ناممکنه ده چې مستقیماً دیموکراسي پلی شي او یا هر کس دی هری سیاسي موضوع په اړه د یوی رایې ورکولو حق ولري، دلته یوازی ممکن کار منظم انتخابات دي چې پکی هر بالغ شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د یوې رایې حق لري او پکې هیڅ سیاسي حزب غیرقانوني نه وي او کاملاً سیاسي آزادي ولري، او انتخاباتي نظام دروغجن او د خلکو د غلطولو د وسیلې په توګه ونه کارېږي.

**آیا یوه آزادي د ټولنې نورې آزادۍ هم تضمینولی شي ؟-**

متأسفانه چې دې سوال ته ځواب منفي دی ځکه د یوې آزادۍ لپاره جګړه د ټولو آزادیو د ترلاسه کولو په مانا نه ده، تاریخ ثابته کړې چې د استقلال لپاره کامیابه جګړه هر ډول حکومت په ځان پسې لرلی شي که چېرته د یو ملک په تقدیر کې دیموکراتیک نظام لیکل شوی وو دا به د هغوئ لویه نېکمرغي وي. بېشکه ملي استقلال د سیاسي آزادئ او په خپل سرنوشت د حاکمیت د ټاکلو لپاره ضروري شرط دی خو کافي شرط یې نشو بللی.

د مشروطه حکومت په قالب کې سیاسي آزادي یوه بله نظریه ده. ددې ډول آزادۍ مدافعان لکه د متحده آیالاتو بنیادګزار چې قصداً یې ټول رعایتونه په خپل جنس او نژاد پورې محدود کړي وو. په دې بنیاد حتی به پرمختللو دیموکراتیکو هېوادونو کې هم د مملوکیت خدمات ټولو هېوادوالو ته په مساوي توګه نه دي وړاندې شوي. د نړۍ تر ټولو مشهور دیموکراتیک هېواد هم تر ۹۰ کلونو پورې له خپلو خلکو ظلم لغوه نکړی شو او د خپل تاسیس تر سلو کلونو یې هم ښځو ته د رایې ورکولو حق ورنکړ. د متحده ایالاتو په جنوبي ایالاتو کې د تور پوستو رایه ورکوونکو پراخ ترور، د تشدد او بدچلند اعمال، د ښځینه فعالانو بندي کول او اجباري واده کول ددې قدرت بېلګې دي چې حتی په لویو ولسواکو هېوادونو کې وجود لري. تر ډېره په اکثریت ولسواکو ټولنو کې هم فردي آزادي لکه د بیان آزادي نشي تضمینېدلای.

آیا مشروطه حکومت د آین رند او نازک مطلوب اقتصادي آزادۍ تضمینولای شي ؟- بلکل نه !

بعضې هغه دولتونه چې کامل پارلماني او یا مشروطه دي خپل اقتصاد د سوسیالیزم او سرمایه دارئ په ترکیب مخکې وړي. هغه هېوادونه چې اقتصادي آزادي لري غالباً له نورو آزادیو هم برخمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. په عين حال کی اقتصادي آزادي سياسي آزادي هم چی مطلب مو مشروطه حکومت دی نه تضمينوي پاتی خو لا د بيان او مذهب آزادي.

رند او نازيک د خپلو نظرياتو د تحقيق لپاره يوازی متحده ايالاتو ته پنا وړي حال دا چی د نوری نړۍ په هېوادونو کی وضعيت متفاوت دی او يوازی د متحده ايالاتو د وضعيت مطابق پاليسي د نورو هېوادونو نظام نشي رهبري کولی، هغوئ بايد پوه شي چی د نوری نړۍ هېوادونه سرمايه-داري او ديموکراتيک نه دي.

د اسلام تر حاکميت لاندی ممالکو کی سرمايه داري ممکنه ده که څه هم په ډيرو اسلامي هېوادونو کی په مکمله توگه مذهبي آزادي نشته او د همدغه محدوديتونو په وجه په ډيرو اسلامي هيوادونو کی نه مشروطه مترقي او پرمختللي نظامونه شته او نه کافي امن او نظم.

نو له دی سره دی نتيجی ته رسيږو چی د ازادۍ مختلف اقسام نشي کولی د يوبل حقوق تضمين کړي بلخصوص فردي آزادي.

## فردي آزادي او طبيعي حقوق

جان لاک په خپله دوهمه رساله کی د مدني حکومت په طبيعي حقوقو خبره کوي. هغه وايي چی دری طبيعي حقوق وجود لري: د ژوند حق، د آزادۍ حق او د رايې حق.

خو توماس جيفرسن د طبيعي حقوقو د دريم قسم يعنی د درايئ د حق په ځای د نېکمرغۍ لټون ليکي. د لاک دوه رسالو او د امريکې د استقلال اعلامیې په امريکايي فيلسوفانو ژور تاثير کړی دی او د هغوئ ډيری باوري دي چی اخلاق د حقوقو اساسي پايه ده.

که څه هم چی د طبيعي حقوقو نظريې په سياسي او اخلاقي مفکورو کلک تاثير لرلی دی خو بايد ومنل شي چی د ضعف نکات هم لري. يو عيب يی دادی چی دغه نظر نسبتاً مبهم دی يعنی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وجه يو حق کولی شو طبيعي وبولو ؟- بل دا چی دا ادعا چی وايي انسان دغه طبيعي حقوق لري نه موږ ته راښيي چی کوم شيان په دغه حقوقو کی داخل دي او نه يی هم د دفاع او تحفظ لپاره لاری چاری راته وايي.

که چيرته د آزادۍ حق د انسان طبيعي حق دی نو آيا هغه جنايتکاران چی محکوم دي هم د آزادۍ طبيعي حق لري ؟- که هو نو آيا ددوئ د طبيعي حق د استقرار لپاره ولته عمومي عفوه وشي که څنګه؟

**فردي آزادي او مدني حقوق**

فردي آزادي له هغی آزادۍ څخه عبارت ده چی د بل چا له مداخلی خالي وي بلخصوص په شخصي ژوند کی د حکومت د ناروا مداخلی پرته. دا په دی مانا ده چی د شخصي ژوند ځينی حدودات بايد د هيچا ترکنترول لاندی نه وي. دا چی دا قلمرو کوم دی په خپله د آزادئ له اصولو کولی شو استنباط وکړو. عموماً باور دادی چی د شخصي آزادۍ حصی د شخص د بيان آزادي او د قلم آزادي ده. د مذهب آزادي د اطلاع رسونی آزادي او واده کولو يا نه کولو آزادي عبارت دي د شخص له فردي آزادۍ او د فکر او عقل له حيات څخه.

د همدی نظريې پلويان وايي چی د دغه ازاديو د حصول لپاره د قانون حمايت ته اړتيا ده او بايد اقليتونو ته هم دغه حق ورکړل شي. ډير نور غربي فيلسوفان له مختلفو لارو د فردي ازادۍ د حمايت غبږ پورته کوي. د نمونی په خاطر بنيامين کنستېنټ باور درلود چی مذهبي آزادي د مالکيت آزادي او د عقيدی آزادي د يوی پرمختللی ټولنی بنيادي ضرورتونه دي. ځينی نور د بيان او خپرونو په آزادۍ ټينګار کوي. هغوئ چی له فردي آزادۍ دفاع کوي ډېر زيات دي خو بايد له جان ملټ، ټام پين، ماري ويستېن کرافټ، توماس جيفرسن او جي ايس ميل روزولټ څخه يادونه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پایلې په توګه ویلی شو چې د یوې ټولنې وضعیت د هغه ټولنې آزادي راته تشخیصوي. ښکاره ده چې د بیان او فکر آزادي نه وي موږ حتی د سوال کولو لپاره هم خوله نشو خلاصولی پاتې خو لا د ټولنې د نورو ضرورتونو د رفع کولو هوډ او اقدام.

- پای -

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get More e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**